د

# اصول ثلاثه

# قواعد الاربع

# او نواقض الاسلام

# كتاب شرح


فضيلة

الشيخ هيثم بن محمد جميل سرحان حفظه اللّه

دمسجد النبوي معهد الحرم مدرس

ترجمة:

عبدالرحيم عبدالواحد صافي


مترجم باللغة البشتو

لا يجوز بيعه

# داصول ثلاثه کتاب شرح

مولف: شیخ هیثم سرحان

مترجم: عبد الرحیم عبدالواحد صاف

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

إن الحمد لله، نحمدُه ونستغفره ونستعينه ونستهديه ونعوذُ بالله من شرورِ أنفسنا ومن سيئاتِ أعمالنا، من يهْدِ اللهُ فلا مضِلَّ له ومن يضلل فلا هادي له. وأشهد أنْ لا إله إلا اللهُ وحده لا شريك له وأشهد أنَّ محمداً عبدُه ورسولُه.أما بعد:

## دشرح نه مخكي مقدمه

شيخ الاسلام او د توحيد ددعوت مجدد امام : مُحَمَّدُ بن عَبْدِالوَهَّابِ بن سُلَيمَانَ التَّمِيمِيُّ، چه كنيه يي آبوالحسين ده.

په (١١١٥ه)كي په العيينه كي پيدا شوي وو ،او په كال (١٢٠٦ه كي په الدرعيه كي وفات شوي دي.) .

### توحيد ولي و ايو؟

| | |
|---|---|
| الله تعالى ددي لپاره پيدا كړي يو | الله تعالى ددي نه بغير هيڅ يو عمل نه قبلوي |
| جنت ته نه داخليږي مګر د توحيد والا | په نيكيو كي د ډيروالي سبب دي |
| دبديو د كموالي سبب دي. | دهدايت او د امن د حاصلولو سبب دي |
| داطمئنان سبب دي | دنبي ﷺ د شفاعت سبب دي |

## دطالب لپاره په ابتداء کي ددي متن داختيارولو سبب

سلف صالحينو او اهل سنت علماو په دي متن باندي ډير اهتمام کړي دي.ځکه په دي کي ډيري فايدي دي،او داسي قواعد او ضوابط پکي ذکر شوي دي کوم چه د طالب لپاره بنيادي حيثيت لري، نو مونږ له هم ددي سلف صالحينو اقتداء پكار ده او ددوی منهج خپلول پكار دي.

همدارنګه عام خلک هم ددي متن د ويیلو نه مستغني نه دي،ځکه په دي کي دعقيدي داسي اصول دي چه په هغي باندي بغير د شک شبهي نه ايمان راوړل واجب دي.

## ددي متن او دشيخ الاسلام دنورو کتابونو خصوصيات:.

- اسان او واضح عبارت
- دمسائلو ذکر په دلائلو سره
- دمسائلو جمع او ترتيب او دهغي عدد بيانول او بيا د هغي شرح کول.
- دده د مولفاتو ويونکو له د ډيري دعاء کولو اهتمام

## داصول ثلاثه(دري اصولو) مختصر تعارف

دري اصول مختصر شکل باندی : دقبر دري سوالونه دي

ستا رب څوک دي ؟

ستا دين څه دي

ستا نبي څوک دي؟

**ددي متن د ويیلو څه فايدي دي ؟**

که دا دري اصول ته پيژني او عمل وربانديِ کوي او بيا دعوت ورته کوي،او بيا په دغه علم عمل ته دعوت باندي صبر کوي ،نو تا بيشکه د قبر د جوابونوتياري وکړو. بإذن الله-

**داصول ثلاثه فهرست**

دامتن ڤنݢه قسمه باندي تقسيم دي :

١.ثلور مسائل (سورة العصر)

٢.دري مسائل (دتوحيد اقسام)

٣.دتوحيد ويپلو اهميت

٤-دري اصول (دقبر سوالونه)

٥. خاتِمةُ

## ١.څلور مسائل

١.علم

٢.عمل

٣.دعوت

٤.په دي لاره کي تکليفونو باندي صبرکول

## ٢.دري مسائل

١. توحيد ربوبيت او اسماو صفات

٢. توحيد الوهيت

٣. دشرک او مشرکينو نه براءت (په زړه په ژبه او اندامونوباندي)

## ٣.دتوحيد ويلو اهميت

ددي جواب مخکي تير شوي دي چه ولي توحيد وايو؟

## ٤. دري اصول

مختصر شکل باندي اصول ثلاثه: دقبر دري سوالونه دي

ستارب څوک دي؟

ستا دين څه دي؟

ستا نبی څوک دي؟

## ٥. خاتمه

دمصنف رحمه الله ددي قول نه چه: والنَّاسُ إذا ماتُوا يُبعَثون: دمتن اخره پوري .

## أول: المسائل الأربعة(څلور مسائل)

(١) دمصنف ددي متن په بسم الله باندي دشروع کولو سبب:

١. کتاب الله(قران) او د انبياو داقتداء

٢. دماسبق علماو او سلف صالحينو اتباع

٣دالله دنوم نه برکت حاصلول

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(١) پوهه شه الله دې تا باندي رحم وکړي: (٢ دڅلورو مسائلو يادول په مونږ باندي واجب دي.
اول: علم.
او دا د: الله اودنبي او داسلام دين په دلائلو سره پيژندل دي.
دويم: په دې باندي عمل کول(٣).

(٢) لکه څنګه چه مقدمه کي اشاره شوي وه چه: دمصنف عادت دادي چه طالب علم ته په دعاء باندي شروع کوي، او په دې کي دليل دي :

داهل سنت والجماعت علماو په طالب علمانو باندي د رحم.

ددين اسلام بنياد په رحم باندي دي.

علم: د حق پيژندل دي په دليل سره او ضد يي جهل دي

(٣) دعلم او عمل د علاقي په باره کي وييل شوي دي:که په علم عمل وشی نو پاتي کيږي او کنه ضايع کيږي، دداسي علم هيڅ فايده نشته چه عمل ورسره نه وي، چه علم يي حاصل کړو نو عمل وربانديي واجب شو، او کنه بيا د يهودو سره مشابهت دي، ځکه يهودو سره علم وو عمل نه وو، ﴿ يعرفونهم كما يعرفون أبناءهم ﴾. او د هغه دري کسانو نه چه اول په اور کي سوزي يو عالم دي چه عمل يي نه وي.

وَعَالِمٌ بِعِلْمِهِ لَمْ يَعْمَلَنْ مُعَذَّبٌ مِنْ قَبْلِ عُبَّادِ الوَثَنْ

دريم:
ديته دعوت كول

ددعوت څه شرطونه او ضوابط دي چه وجود يي ضروري دي:

١.چه دعوت به د خالص د الله رضا لپاره وي

٢.دعوت به شرعي علم باندي مبني وي.

٣.په صبر او حكمت سره به دعوت كوي.

٤.چاله چه دعوت وركوي دهغي دحالاتو خيال ساتل.

ددي شرطونو دليل:

دالله دا قول: ﴿ قل هذه سبيلي أدعو إلى الله على بصيرة أنا ومن اتبعني وسبحان الله وما أنا من المشركين﴾

﴿ قل هذه سبيلي ﴾ ددي نه مراد اسلامي شريعت دي،كوم چه په نبى ﷺ باندي نازل شوي دي،او د سبيل معنى لاره ده.

﴿أدعوآ الى الله﴾ هغه مخلص دعوت كونكي كوم چه د الله طرف ته دعوت كوي.

﴿ على بصيرة﴾: بَصيرت : ددي نه مراد علم دي او دا لاندي شيان پكي شامل دي:

- شرعي علم
- چاله چه دعوت وركوي د هغوى د حالاتو علم
- هدف ته درسيدلو علم

مولف رحمه الله فرمايي: چه كله د علم حاصل كړو او عمل دي وربانـدي وكړو نو بيا دربانـدي واجب دي چه هغه طريقه اختيار كړي كومه چه رسـول الله ﷺ او صحابه او سلـف صالحينو اختيـار كـړي وه،لكـه ځنګـه چـه الله تعـالى فرماييلي دي: ﴿ قـل هـذه سـبيلي أدعـو إلى الله على بصيرة أنا ومن اتبعني﴾، يعني ددعوت كار ضروري او لازمي دي.

ځلورم: په دي په تکليفونو باندي صبر کول(١).
او دليل يي دالله تعالى دا قول دي: ﴿ وَالْعَصْرِ ۝ إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ ۝ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ ﴾ (٢).

(١) مصنف رحمه الله ددعوت نه وروسته د صبر ذکر وکړو لکه هغه چه دا وايي چه څوک دا لاره اختيار کړي نو هغه کارونه به ورسره کيږي کوم چه انبياو سره شوي وو نو صبر لازمي دي.

**صبر**

- په لغت کي: بندولو ته وايي
- او شرعا: دنفس بندول په ځينو شيانو او د ځيني شيانو نه.

**امام ابن قيم رحمه الله صبرپه دري تقسيمه تقسيم کړي دي :**

١. دالله په طاعاتو باندى صبر کول تر دي چه اداء کړي شي

٢. دګناهونو نه ځان صبر کول تر دي چه ځان ورنه وساتي

٣. دتقدير ليکلي شوي دردونو او پريشانيانو باندي صبر کول

(٢) مصنف رحمه الله دځلورو مسائلو د ذکر کولو نه وروسته دقران نه وربانديي دليل راوړو؛چه هغه سورت العصر دي، مولف رحمه الله هميشه مسأله ددليل سره ولي ذکر کوي؟

- ددي لپاره چه د طالب علم تربيت په اتباع سره وشي نه په تقليد.
- ددي لپاره چه د طالب سره دليل وي چه مخالف باندي رد وکړي شي.
- ددي لپاره چه طالب کي د دلائلو نه په صحيح اصولو سره د احکامو راويستلو قدرت پيدا شي.

امام شافعي رحمه الله فرمايي:که
الله تعالی بنده ګانو باندي ددي
سورت نه علاوه بل کوم دليل نه وو
نازل کړي نو دا ورله کافي وو. (١).
امام بخاري رحمه الله فرماييلي دي:
بَاب دي په بيان د : علم مخکي دقول
او عمل نه.
او دليل د الله تعالی دا قول دي: ﴿فَاعْلَمْ أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ﴾ .
نو دلته يي هم د قول او عمل نه
مخکي علم باندي شروع وکړه. (٢).

(١) دمولف رحمه الله مقصد دادي
چه دا سورت يواځي په بنده ګانو
باندي د حجت قائولو لپاره کافی
دي،چه علم وکړی عمل پري وکړي او
دعوت وکړي او صبرورباندي وکړي.
نو د باقي سورتونو باره کي د څه
سوچ دي ؟قران ټول حجت دي.
(٢) دحديثونو امير المومنين په خپل
کتاب (صحيحَ البخاريِّ) کي باب
راوړي دی : بَابٌ: العِلْمُ قَبْلَ القَوْلِ وَالعَمَلِ (باب دي په بيان د علم
مخکی د قول او عمل نه)او دليل يي
هم ذکر کړي دي،نو لازمه ده چه
اول علم وي بيا قول اوعمل.
نو عمل بغير د علم نه صحيح نه دي
ځکه دي کي  دنصاراو سره مشابهت
راځي

# دويم: دري مسائل

(١) مصنف رحمه الله د متن ددي برخي شروع طالب علم ته په دعاء سره وکړه.

(٢) همدارنګه مؤلف رحمه الله په اصول الثلاثة کتاب کي دري ځايونوکي طالب علم ته دعاء کړي ده: د مسائل اربعه په اول کي بيا دلته مسائل ثلاثه کي او دريم ځاي (پوهه شه الله د تا اطاعت او هدايت ته طرف ته بوځي): حنيفي ملت ابراهيمی ملت دي)

پوهه شه الله دي په تا باندي رحم وکړي: بيشکه په هر مسلمان او مسلماني زنانه باندي دا دري مسائل يادول او عمل وربانديِ کول واجب دي. (١):

ددري مسائلو د شرح کولو نه مخکي مقدمه

**توحيد**

| په لغت کي: لفظ توحيد د فعل وحّد يوحد توحيدا مصدر دي لکه چه ويل کيږي وحد الشي. يعني د يو شي يو ګڼل | شرعًا: الله تعالی په خپلو تولو خصوصياتو کي توحيدربوبيت ،الوهيت اسماو صفاتو کي يو ګڼل. |
|---|---|

**توحيد په دري قسمه دي:**

| توحيد ربوبيت د الله تعالی په خپلو کارونو کي يواځي ګڼل او همدارنګه دا الله تعالی ددي دنيا په پيدائش (خلق)کي او بادشاهی او تدبير کي يواځي ګڼل | توحيد الوهيت الله تعالی په عبادت کي يواځي کول(خاص کول) | توحيد اسمَاء وصفات الله تعالی چه په خپل کتاب کي او يا د پيغمبر په ژبه ځان له چه کوم نومونه او صفتونه بيان کړي دي په هغي کي الله يواځي ګڼل، او هغه داسي چه څه يي ځان له ثابت کړي دي منل او کوم چه يي ځان نه نفي کړي دي بغير د تمثيل تحريف او تعطيل نه نفي کول. |
|---|---|---|

*** دالله تعالى اسماء وصفات توقيفي دي په دي کې به صرف په هغه څه انحصارکيږي کوم چه کتاب او سنت کې وارد شوي وی، او هغه داسي:**

-الله تعالى چه خپل کتاب کې کوم څه ځان لپاره ثابت کړي وي يا پيغمبر ورله ثابت کړي وي دهغي ثابتول.

-او هر هغه څه چه يې د ځان نه نفي کړي دي په قران کې او ياپيغمبر ورنه نفي کړي دي د هغي نفي کول بغير د تحريف او تمثيل او تعطيل نه لکه : ﴿لَا تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ﴾ [البقرة: ٢٥٥ ]، ﴿وَمَا مَسَّنَا مِن لُّغُوبٍ﴾[ق:٣٨] دي کې د خوب او ستړي والي نفي ده.

اولني (اصول): الله تعالى مونږ پيدا کړي يو او هغه رزق راکوي او همداسي يې نه يو پرېښي بلکه رسولان يې راته راليږلي دي، نو چاچه يې اطاعت وکړو جنت ته به يې داخل کړي او چاچه نافرماني وکړه اور ته به يې داخل کړي او دليل وربانديې د الله تعالى دا قول دي: ﴿ إِنَّا أَرْسَلْنَا إِلَيْكُمْ رَسُولًا شَاهِدًا عَلَيْكُمْ كَمَا أَرْسَلْنَا إِلَىٰ فِرْعَوْنَ رَسُولًا فعصى فرعون الرسول فأخذناه أخذا وبيلا.﴾(١).بيشکه مونږ تاسو ته تاسو باندي ګواهي کونکي رسولان ليږلي ، لکه څنګه چه موفرعون ته ليږلي وو،نو فرعون ددي رسول نافرماني وکړه نو مونږ ډير سخت نيول سره ونيولو.

## «ددري مسئائلو خلاصه

| دريمه مسأله | دويمه مسأله: | اوله مسأله: |
| --- | --- | --- |
| دشرک او مشرکينو نه براءت | توحيد الوهيت | توحيد ربوبيت او توحيد اسماو صفات |

(١) اوله مسأله کې مولف رحمه الله توحيد ربوبيت او توحيد اسماء اوصفات ثابت کړي دي (أَنَّ اللهَ خَلَقَنَا) الله تعالى مونږ پيدا کړي يو يعني خالق دي. (وَرَزَقَنَا) رزق راکوي رازق دي. ( او داسي يې نه يو پرېښي ) چه نه اوامر او نه نواهي ؛ بلکه د هدايت لپاره يې رسولان راليږلي دي.

## درسولانو د راليږلو مقصد او هدف

| د خلکو لپاره رحمت | مخلوقاتو باندي حجت قائمول |
| --- | --- |
| ﴿ وما أرسلناک الا رحمة للعالمين﴾ [ الأنبياء: ١٠٧ ]. | (وما کنا معذبين حتى نبعث رسولا ﴾[الإسراء: ١٥ |

## دويمه مسأله کي د الله تعالی دالوهيت ثبوت دي.

مولف رحمه الله فرمايي (إنَّ الله لا يَرْضَى أَنْ يُشْرَكَ مَعَهُ أَحَدٌ)؛ الله تعالی دا نه خوښوي چه د هغه سره عبادت کي څوک شريک کړي شي. د احد لفظ نکره دي عام دي هر شي له شامل دي يعني نه ولي نه نبي نه پيري نه ملائکه او نه نيک سړي او نه په کائناتو کي بل څوک چه هر څوک وي،او دليل وربانديي د الله دا قول دي:: ﴿ وَأَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدْعُوا مَعَ اللَّهِ أَحَدًا﴾ [الجن: ١٨]او مسجدونه صرف د الله لپاره خاص دي نو د الله سره بل څوک مه رابلی.

دويم(اصول): الله تعالی دا نه خوښوي چه د هغه سره په عبادت کي څوک شريک شي اګر که هغه هر څوک وي مقرب ملائکه ولي نه وي يا ليږلي شوي رسول ولي نه وي.
او په دي باندي دليل د الله تعالی دا قول دي: ﴿ وَأَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدْعُوا مَعَ اللَّهِ أَحَدًا ﴾. او مسجدونه صرف د الله لپاره خاص دي نو د الله سره بل څوک مه رابلی.

## دمسجد دري معنی ګاني دي

| | | |
|---|---|---|
| هغه ځوماتونه چه دالله د عبادت لپاره جوړ شوي وي خاص شوي وي | دسجدي کولو جسماني اعضاء | تولـه ځمکه ((وجُعِلَتْ لِيَ الأرضُ مَسجِدًا وطَهورًا)) |

﴿ فَلَا تَدْعُوا مَعَ اللَّهِ أَحَدًا ﴾ لفظ د « أحدًا » نکرة دي د نهي نه بعد ذکر شوي دي او هر يو له عام دي ددي وجي نه امام رحمه الله ددويمي مسألي په شروع کي دا ذکر کړل چه (أَنَّ الله لا يَرْضَى أَنْ يُشْرَكَ مَعَهُ أَحَدٌ) الله تعالی دا نه خوښوي چه د هغه سره عبادت کي څوک شريک کړي شي چه هر څوک وي که نبي وي که ولي يا پيري يا نيک انسان.

دريم (اصول): چاچه د رسول اطاعت وکړو او الله تعالی يي يواځي معبود حقيقي وګڼلو نو هغه له دا جائز نه دی چه د الله او درسول ددشمنانو سره دوستي وکړي اکر که هغه يي نژدي خپلوان ولي نه وي دليل وربانديي د الله تعالی دا قول دي: ﴿ لَّا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءَهُمْ أَوْ أَبْنَاءَهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ ۚ أُولَٰئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ الْإِيمَانَ وَأَيَّدَهُم بِرُوحٍ مِّنْهُ ۖ وَيُدْخِلُهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا ۚ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ ۚ أُولَٰئِكَ حِزْبُ اللَّهِ ۚ أَلَا إِنَّ حِزْبَ اللَّهِ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴾.

دريمه مسأله كي مولف رحمه الله د شرک او د مشرکينو نه د براءت اظهاروجوب بيان کړي دي

دشرک او مشرکينو نه براءت په دري شيانو باندي وي :

زړه | ژبه | انداموته

١- په زړه باندي، او هغه دا چه د کافرو سره او د هغوی اخترونو او شرکي کارونو او محفلونو سره يي بغض او نفرت وساتي

٢-په ژبه، ﴿إِنَّنِي بَرَاءٌ مِّمَّا تَعْبُدُونَ﴾ [الزخرف ٢٦]، دکوم شيانو عبادت چه کوی زه ورنه بيزاره يم﴿وَلَا أَنتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ * وَلَا أَنَا عَابِدٌ مَّا عَبَدتُّمْ * وَلَا أَنتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ﴾ [الكافرون٣،٤،٥].

٢-په ژبه، ﴿إِنَّنِي بَرَاءٌ مِّمَّا تَعْبُدُونَ﴾ [الزخرف ٢٦]، دکوم شيانو عبادت چه کوی زه ورنه بيزاره يم﴿وَلَا أَنتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ * وَلَا أَنَا عَابِدٌ مَّا عَبَدتُّمْ * وَلَا أَنتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ﴾ [الكافرون٣،٤،٥].

## دریم: دتوحید د ویلو(یادولو) اهمیت

### دين حنيف (حنيفية)

**په لغت كي:** دا د الحنف نه اخستل شوي دي او معنى يي مايل كيدل دي

**شرعاً:** دا د شرک نه توحيد طرفته مايله كيدلو والا ملت ته ويلي شي. قانتا لله حنيفا ﴿يعني الله ته مخه كونكي او شرک ته شا كونكي، څكه حنيف هميشه د توحيد طرف ته راځي او د شرک نه لري كيږي.

**پوهه شه الله د خپل اطاعت طرفته تا ته هدايت وكړي:** حنيفي ملت ابراهيمي داذی چه: د الله وحده لپاره دين خالص وګرځي او عبادت يي وكړي،او په دې باندې الله تعالى ټولو خلكو ته حكم كړي دي او ددې لپاره يي پيدا كړي دي لكه څنګه چه الله تعالى فرمايي:

﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ﴾ (١).

د يعبدون نه مراد يوحدون دي چه الله يو وګڼي عبادت كي .(٢).

او د ټولو نه لوي شي چه الله تعالى وربانديي حكم كړی دی هغه توحيد دی او مطلب يي داذی چه صرف د يو الله عبادت د وكړې شي. او هغه لوی كار چه الله ورنه منع كړی ده هغه شرک دی،ځان وساتل شی.

(٣) دلته مولف رحمه الله د توحيد اهميت ذكر كوي كوم چه مونږ مخكي بيان كړو (وګوره ص٢).

### دتوحيد تعريف لكه څنګه چه مقدمه كي تير شو

**په لغت كي:** لفظ توحيد د فعل وحد يوحد توحيدا مصدر دی لكه چه ويل كيږي وحد الشي. يعني د يو شي يو ګڼل

**شرعًا:** الله تعالى په خپلو ټولو خصوصياتو كي توحيدربوبيت الوهيت اسماو صفاتو كي يو ګڼل.

مولف رحمه الله فرمايي : د( يعبدون معنى يوحدون ده) ، او دا د ابن عباس ﷺ قول دي فرمايي: «قران كي چه كوم ځاي كي د عبادت ذكر راغلي دي معنى يي توحيد دي ». ﴿وَاعْبُدُوا اللَّهَ﴾ الله يو وګڼی، ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا رَبَّكُمُ﴾ اي خلكو رب يو وګڼی.

## څلورم: (اصول الثلاثة) دري أصول

**چه کله درنه تپوس وشي چه هغه کوم دري اصول دي چه یادول یې په انسان باندې واجب دي؟**

نو ورته اوایه چه د بنده د خپل رب پېژندل ددین پېژندل او د نبي محمد ﷺ پېژندل. (١).

که درنه تپوس وشي چه ستا رب څوک دی؟ ورته اوایه چه رب مې الله دی هغه الله چه په خپل نعمتونو یې زما او د ټول عالم پالنه کړې ده، او هغه زما معبود دی د هغه نه علاوه بل معبود نشته، او دې باندې دلیل دادی:

﴿ الحمدلله رب العالمین ﴾(٢).د الله نه سوا چه کوم شې دي هغه عالم دي او زه ددی عالم یوه حصه یم (٣).

(١) او د اوریدونکي او ویونکي انتباه یې راواړوله سوال باندی او بیا یې جواب وکړو.

(٢) مصنف رحمه الله اولني اصل بیان کړو او وي ویل چه بیشکه رب او د عبادت مستحق صرف الله تعالی دی، او دلیل یې وربانديی ذکر کړو، چه د الله دا قول دی ﴿ الحمدلله رب العالمین ﴾، نو رب معبود حقیقي دی.

* ﴿ الحمدلله رب العالمین ﴾ دې آیت کریمه د توحید دري واړه قسمونه راجمع کړي دي.

| ﴿ رب ﴾ | ﴿ لله ﴾ په | ﴿ الحمد ﴾: په دې کې د توحید اسماوصفات ثبوت دی. |
|---|---|---|
| په دې کې د توحید ربوبیت ثبوت دی | دې کې د توحید الوهیت ثبوت دی | |

(٣)یعني هر هغه څه چه د الله نه سوا دي هغه مخلوق دي. نو کله چه زه مخلوق شوم نو باید چه د خالق او د نعمت کونکي او فضل کونکي شکر اوباسم.

**که درته اوویل شي چه خپل رب دي په څه پيژندلي دي؟** نو ورته اوايه د هغه په نښو او مخلوقاتو باندي ،د هغه د نښو نه شپه او ورځ ده لمر او سپوږمۍ ده، او د مخلوقاتو نه يي اووه اسمانونه او اووه ځمکي دي او څه چه ددي منځ کي دی، او دليل وربانديې د ا دالله قول دي: ﴿ وَمِنْ آيَاتِهِ اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ لَا تَسْجُدُوا لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَاسْجُدُوا لِلَّهِ الَّذِي خَلَقَهُنَّ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ ﴾، او دا قول: ﴿ إِنَّ رَبَّكُمُ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَىٰ عَلَى الْعَرْشِ يُغْشِي اللَّيْلَ النَّهَارَ يَطْلُبُهُ حَثِيثًا وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُومَ مُسَخَّرَاتٍ بِأَمْرِهِ أَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْأَمْرُ تَبَارَكَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ ﴾(١).او رب معبود دي، او دليل وربانديې دا قول دي: ﴿ يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ وَالَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ (٢١) الذي جعل لكم الأرض فراشا والسماء بناء وأنزل من السماء ماء فأخرج به من الثمرات رزقا لكم فلا تجعلوا لله أندادا وأنتم تعلمون ﴾ (٢)
ابن کثير رحمه الله فرمايي: «ددي شيانوپيداکونکي مستحق د عبادت دي. »(٣).

(١) مولف د يو څو دنياوی نښو او مخلوقاتو ذکر باندي شروع وکړه کوم چه د الله په وجود باندي دلالت کوي او دا ثابتوي چه د الله نه بغير رب او خالق او معبود برحق نشته مګر صرف الله تعالی دي، او بيا يي وربانـدی د قـران نـه آيتونه(دلائل)راوړل لکه څنګه چه متن کی ذکر شوي دي.

* او هر مخلوق د الله په وجود باندي دليل دي ليکن مولف رحمه الله د نښي او مخلوق منځ کي فرق وکړو څکه چه نښه بدليږي رابدليږي لکه شپه او ورځ،او کوم شي چه بدليږي په هغي کي نښي او ددليل قوت ډيروي په نسبت د هغي چه نه بدليږي.

(٢) دا آيت په سورت البقره کي دي ځيني علماو فرمايلي دي :دا ايت اولني نداء او اواز دي په قران کي، ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ﴾. اي خلکو. او همدارنګه دي کي اولني امر دي ﴿اعْبُدُوا﴾ أي وحّدوا. او په دي کي اوله منعه دي نهي ده،په قران کي ﴿فَلَا تَجْعَلُوا لِلَّهِ أَندَاداً وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ﴾ دشرک نه يي منع کړي ده.

(٣) يعني کوم ذات چه په توحيد ربوبيت کي يواځي اومنفرد دي واجبه ده چه په توحيد الوهيت(عبادت) کي هم منفرد وګڼل شي.

دعبادت قسمونه چه الله تعالی یي په کولو باندي حکم کړي دي **(۱)**:

لکه اسلام ایمان او احسان،او همدارنګه د عبادت نور اقسام لکه دعاء، خوف، امید، توکل، رغبت،

رهبت،

خشوع،الله ته رجوع انابت، پناه غوښتل،مدد غوښتل، حلاله، نذر وغیره،دا ټو ل هغه عبادات دي چه الله تعالی یي د کولو امر کړي دي او دا ټول د الله تعالی لپاره دی ، او دلیل وربان‌دي د الله تعالی دا قول دي : ﴿ وان المساجد لله فلا تدعوا مع الله أحدا ﴾.

نو چاچه ددي عباداتونه کوم یو شی د الله نه بغیر بل چاته وګرځولو نو مشرک او کافر دي.او دلیل وربان‌دي دادي: ﴿ وَمَن يَدْعُ مَعَ اللَّهِ إِلَهًا آخَرَ لَا بُرْهَانَ لَهُ بِهِ فَإِنَّمَا حِسَابُهُ عِندَ رَبِّهِ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الْكَافِرُونَ ﴾.او په حدیث کي دي: ((الدُّعَاءُ مُخُّ العِبَادَةِ)). دلیل وربان‌دي دا قول دي :﴿ وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ ﴾.

مولف د ابن کثیر دقول نه وروسته څیني قلبي او بدني عبادتونه ذکر کړل او د هر یو عمل لپاره یي دقران نه دلیل پیش کړو.په لاندي شکل:

دعاء اودا په دوه قسمه ده:

**دعاءُ عبادة**
دا هغه دعاء ده چه کوم لسان حال کي وي ،لکه څوک چه لمونځ روژه او حج .

د الله نه بغیر بل چاته کرځول یي شرک اکبر دي.

**دعاءُ مسالة**
دا هغه دعاء ده کوم چه ژبه باندی وي لکه دا قول:

یا الله ماته بخښنه وکړي یا الله په ما رحم وکړي

ددي په حکم کي تفصیل دي او په دوه قسمه دي لکه روسته یي بیان راروان دي.

## دعاء المسألة په دوه قسمه دي:

**هغه کوم چه بنده وربانديِ قادرنه وي،**
او دا شرک دي

**په کوم باندي چه بنده قادروي**
**اودا په څو شرطونو باندي صحيح کيږي:**

چه د چانه طلب ددعاء کوي هغه به ژوندی وي .
په دي باندي مړي ورنه اوتلو

د چا نه چه طلب ددعاءکوي نو هغه به حاضر وي
په دي سره غائب ورنه اوتلو

دچانه چه طلب ددعاءکوي وربانديِ به قادروي.
په دي سره عاجز او غير قادر اوتلو

دا عقيده به ساتي چه د چانه چه طلب ددعاءکوي صرف سبب دي.

که چرته دا عقيده وساتي چه دچانه چه ددعاء طلب کوي هغه ددنيا کارونو کي پټ تصرف کولي شي او په لاس کي فايده او ضرر دي نو دا شرک دي.

**نوټ:**

مونږ دلته صرف د فعل (کار) حکم ذکر کوو او د فاعل (دکونکی )حکم نه ذکر کوو ځکه هغه دوه شرطونه غواړي، دليل او دشبهې ازاله ، او دا د علماو کار دي چه فاعل(کونکي ) باندي د مومن او د کافر حکم وکړي.

**اسبابو باندې عقیدې باره کې خلک په درې قسمه دي:**

**اولني قسم هغه خلک دي چه عقیده ساتي او کوم شیان چه الله سبب ګرځولي دي سبب يي ګڼي؛**
او دا صحيح دي

**دويم قسم هغه خلک دي چه عقيده ساتي اوهر هغه څه چه الله سبب نه دي ګرځولي دوی يي سبب ګرځوي؛**
او دا شرک اصغر دي

**بل هغه خلک دي چه دا عقيده ساتي چه سبب په خپله أثرکوي او ورده په لاس کي نفع اوتاوان دي؛**
او دا شرک اکبر دي

**شرعي اسباب**
لكه شرعي دم ، بيشكه الله تعالى شرعي دم د مرض د لري كول لپاره شرعي سبب ګرځولي دي

**حسي اسباب**
لکه دواء الله تعالى د شفاء لپاره سبب ګرځولي دي.

دا حديث((الدُّعَاءُ مُخُّ العِبَادَةِ)) ضعيف حديث دي، صحيح قول د رسول الله ﷺ دادي:((الدُّعَاءُ هُوَ العِبَادَةِ)).

**دعاء څنګه عبادت کیدلی شي ؟**

دا آيت په دي باندي دليل دي : ﴿ وقال ربكم ادعوني أستجب لكم إن الذين يستكبرون عن عبادتي سيدخلون جهنم داخرين﴾ الله تعالى فرماييلي دي: ﴿عبادتي﴾ نو دا دليل دي چه دعاء عبادت دي.

خوف (یره) دا یو فطری کیفیت دي چه د متوقع هلاکت نقصان او ضرر په وخت کي حاصلیږي،الله تعالی دشیطان نه د یریدلو نه منع کړي ده او د الله نه د یریدلو حکم یي کړي دي.

**(٢) خوف (یره)په دري قسمه ده:**

- **پټه یره** (داداسي یره ده چه کوم د عبادت او تعظیم لپاره وي): دا دعابد د معبود نه یره ده، چه په دي کي خشوع عاجزي خضوع او تعظیم وي، او دا قسم خوف د الله نه واجب دي بل چاته يي کرځول شرک اکبردي
- **فطري طبيعي خوف(یره)**: لکه دانسان د اور نه ددشمن نه او د ماتونکي ځناور نه یریدل او دا مباح خوف(یره)ده.
- **شرعا حرامه یره(خوف)**: لکه د الله د رحمت نه ناأمیده کیدل او د مخلوق په اطاعت د سره د خالق معصیت او نافرماني کول

اود یري دلیل د الله دا قول دي:

﴿فلاتخافوهم وخافون ان كنتم مؤمنين﴾(١).

او د امید دلیل دالله دا قول دي:

﴿فَمَن كَانَ يَرْجُو لِقَاءَ رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا﴾(٢).

(رجا)امید: د عنقریب میلاویدلو شي تمنا کول او کله کله ډیر لري ډیر وروسته حاصلیدلو والا شي نژدي ګڼلو باندي هم اطلاق کیږي.

دخاکساری خشوع او خضوع والا امید او تمنا صرف د الله پوري خاص ده د الله نه به کیږي د الله نه بغیر د بل چانه کول يي شرک دي.

بهترین او ښه امید او تمنا داده چه کوم د الله اطاعت د ثواب په نیت باندي وکړي او یا د ګناه نه توبه او باسي او د قبلیدو امید يي وساتي،اما امید بغیر د عمل نه غرور دي او قابل مذمت دي .

او په توکل باندي د الله ادا قول دي:﴿ ﴾، او د الله ادا قول: ﴿ وعلى الله فتوكلوا إن كنتم مؤمنين﴾(١).

او د رغبت او رهبت او خشوع دليل د الله ادا قول دي: ﴿ إِنَّهُمْ كَانُوا يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا وَكَانُوا لَنَا خَاشِعِينَ﴾(٤).

**(١) دتوكل تعريف**

- **په لغت کي:** دتوکل لفظ په يو څه باندي اعتماد کولو لپاره استعماليږي
- **شرعًا:** جائز اسبابو اختيارولو سره په الله باندي بروسه او خالص اعتمادکول

**په توكل کي ددري شيانو وجود ضروري دي:**

- **خلوص ريشتنولى** په الله باندي اعتماد کولو کي
- **يقين** دالله تعالى د وعدو پوره کولو باندي کومي وعدي چه يي بنده ګانو سره کړي دي
- **شرعي اسباب اختيارول**

(٤)**رغبت:** محبوب شي ته درسيدلو خواهش

**رهبت:** داسي يره چه د يرونکي شي نه د لري کړي،او دا يره د عمل سره تړلي وي.

**خشوع:** دالله د عظمت مخي ته عاجزى او کمزوري اختيارول،تردى چه د الله کوني او شرعي فيصلو ته مکمل تسليم شي .

- الله ته متوجه کيدونکي له پکار دي چه د خوف(يري) او رجاء(اميد) به منځ کي وي يو له به په بل باندي ترجيح نه ورکوي،چه د هلاکت او بربادۍ سبب جوړ نه شي،بلکه د مارغه د وزرو په رنګه دى خوف او رجار دواړه ساتي.

خشيت باندي دليل د الله تعالى دا قول دي: ﴿ فلاتخشوهم واخشوني﴾ (١).

په انابت باندي دليل دا قول د الله تعالى دي: ﴿ وأنيبوا الى ربكم وأسلموا له﴾(٢).

داستعانت دليل : ﴿ إياك نعبد وإياك نستعين﴾، وَفِي الحَدِيْثِ: ((إِذَا اسْتَعَنْتَ فَاسْتَعِنْ بِاللّهِ))(٣).

داستعاذي دليل: ﴿قل أعوذ برب الفلق﴾، او ﴿ قل أعوذ برب الناس﴾(٤).

داستغاثي دليل: ﴿إذ تستغيثون ربكم فاستجاب لكم﴾.(٥)

دذبح (حلالي)دليل: ﴿ قل إن صلاتي ونسكي ومحياي ومماتي لله رب العالمين لا شريك له﴾،او د حديث نه: ((لَعَنَ اللّهُ مَنْ ذَبَحَ لِغَيْرِ اللّهِ))(٦)

(١) **خشيت:** داسي يره چه د خالق دعظمت او كمال سلطنت په باندي مبني وي،او دا د علماو يره ده د الله نه .

(٢) **انابت:** الله تعالى ته رجوع كول په اطاعت سره او دهغه نافرمانى نه لرى كيدلو سره.﴿وأنيبوا﴾أي ارجِعوا رجوع وكړى﴿ الى ربكم وأسلموا له ﴾ خپل كار الله ته وسپاره ؛ ځكه ته يو بنده يي او بنده بايد خپل سيد او بادار ته تسليم وي، او دلته سيد مالك الله تعالى دي لكه څنګه چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرماييلي دي ((السيِّدُ اللّهُ)).

(٣) **استعانت:** د مدد طلب كول ﴿ إياك نعبد وإياك نستعين ﴾ په دي ايت كي لفظ د (اياک) په فعل باندي مخكي كړي دي،كوم چه د فعل نه وروسته وي، نو ددي وجي نه دا دلته حصر له فايده وركوي،چه معنى يي داده:: لا نعبد إلا إياك ولا نستعَينُ إلا بكَ.(مونږ ستا عبادت كوو او ستا نه مدد غواړو).

(٤) **استعاذة:** پناه غوښتل او دا: مكروه ناخوښه شيانو نه په الله باندي پناه غوښتل، ﴿ أَعُوذُ ﴾ يعني پناه غواړم.

(٥) **استغاثةُ:** دهلاكت او دپريشانى نه د بچ كول او دادرسى طلب كول

استعانت استعانة او استعاذة د مخلوق نه په هغه څه كي چه د هغه وس كي پوره وي طلب كولي شي په څلور شرطونو سره: چه ژوندى به وي، حاضر به وي،په دغه كار باندي قادر به ، او سبب به وي.

(٦) **حلاله كول(ذبح):** مخصوص طريقي سره وينه تويول ،د ذي روح قرباني كول.

دنذر دليل دا قول د الله تعالى دي: ﴿يُوفُونَ بِالنَّذْرِ وَيَخَافُونَ يَوْمًا كَانَ شَرُّهُ مُسْتَطِيرًا﴾(١).

**ذبح او حلاله په درې قسمه ده**

| **دالله لپاره ذبح کول.** لکه د حج قرباني داختر قرباني اوصدقات | **دالله نه بغير بل چا لپاره ذبح کول** لکه دقبرونو والا لپاره او پيريانو لپاره او دا شرک اکبر دي | **مباح ذبحه** کوم چه دخپل خوراک لپاره يا د ميلمه د ميلمستيالپاره وي او يا د تجارت لپاره وي |
| --- | --- | --- |

❖ **نوټ :** دذبح مسائلو کې تفصيل دي چه روسته به کتاب التوحيد کې راشي. بإذن الله.

**(١) دنذرتعريف**

| دالله لپاره په ځان نذر منل | دالله نه بغير د بل چا په نوم نذر منل |
| --- | --- |

**نوټ:** دنذر اقسام او شروط او کفاره . روسته به يې کتاب التوحيد کې تفصيل راشي.

**دنذراقسام**

| دالله لپاره په ځان نذر منل | دالله نه بغير د بل چا په نوم نذر منل |
| --- | --- |

مولف داعبادات د مثال په طور ذکر کړل نه د حصر ځکه دلته ډير عبادتونه دي چه ذکر کړي يي نه دي ، خو خلاصه داده :چا چه ددې عباداتو نه او يا د نورو نه کوم شي دالله نه بغير د بل چالپاره وکړځولو نو شرک يي وکړو .

(١) دلته مولف رحمه الله تعالی دویم اصل شروع کړو او هغه دا چه دبنده خپل دین پیژندل او شروع يي د اسلام په تعريف باندي وکړه او ويي فرمايل:

## اوله مرتبه: اسلام

الله تعالی ته په توحید سره یوالي منلوسره ځان تسلیمول او د اطاعت کولو سره احکام په ځای کول،او دشرک او مشرکینو نه براءت کول دي

نو دا دسلام تعريف دي ؛ چه خپل کار معاملات الله ته تسليم کړي ويي سپاري، ځکه چه ته بنده يي او بنده له پکاردي چه خپل سيد ته تسليم شي او سيد الله تعال دي لکه نبي ﷺ فرماييلي دي والسيِّد الله؛

**بيا يي دين دري مراتبو باندي تقسيم کړي دي :**

اسلامُ — ايمانُ — احسانُ

(٢) داسلام پنځه اركان دي اولني ركن:

**کلمه شهادت:** او دا په ژبه باندي اقرار کول ، او په زړه باندي يقين کول ، او اندامونو باندي تصديق کول دي.

**دويم اصل:** داسلام دين په دلائلوسره پيژندل

او هغه داسي چه : الله ته په توحيد منلو سره تسليميدل

اوپه طاعت كولو ورته تابع كيدل او د شرك او مشركينو نه براءت كول.

**او ددي دري مرتبي دی:** اسْلَامُ، اوَ اِيْمَانُ، اوَ احْسَانُ. او بيا د هري مرتبي اركان دي.

**اوله مرتبه:** اسْلَاْمُ(١).

**داسلام پنځه مرتبي دي:**
دلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهَ گواهي وركول (٢) او د مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ گواهي وركول، لمونځ ، زكات درمضان روژه، حَجُّ بَيْتِ اللهِ الحَرَامِ.

**دکلمه شهادت دلیل د الله تعالی دا قول دي:** ﴿ شَهِدَ اللَّهُ أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ وَالْمَلَائِكَةُ وَأُولُو الْعِلْمِ قَائِمًا بِالْقِسْطِ ۚ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴾.

او معنی یې داده: دالله تعالی د ذات نه علاوه بل څوک معبود برحق نشته.

«لَا إِلَٰهَ» نفي کول دي توله هر هغه څه له چه د الله تعالی نه علاوه یې عبادت کیږي.

« إِلَّا اللَّهَ» ثابتول د عبادت دي صرف الله وحده لاشریک لره په عبادت کې او بادشاهی کې. یعني بادشاهی کې هم ورسره شریک نشته.

ددې نور وضاحت دالله تعالی دي قول کې دي: ﴿ وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ إِنَّنِي بَرَاءٌ مِّمَّا تَعْبُدُونَ ۝ إِلَّا الَّذِي فَطَرَنِي فَإِنَّهُ سَيَهْدِينِ ۝ وَجَعَلَهَا كَلِمَةً بَاقِيَةً فِي عَقِبِهِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴾(٢).

مولف رحمه الله دکلمه شهادت لا إله إلا الله، دلیل ذکر کړو او معنی یې ورله واضحه کړه چه داده: نشته معبود برحق مګر الله تعالی دی

لا معبود بحق إلا الله.

نو لهذا ضروري خبره ده چه شهادت توحید کې دا دوه کارونه لازم وي:

نفي(نفي کول) — إثبات(ثابتول)

په دې قول «لا إله» کې نفي ده

او اثبات په دې قول کې دی: «إلا الله».

او دا صیغه حصر او اثبات لپاره ده. یعني عبادت صرف د الله لپاره خاص کوي او ثابتوي یې او د الله نه بغیر د بل چانه یې نفي کوي..

ددې وجې نه مولف رحمه الله وفرماییل چه ددې مزید تفصیل په دې ایت کې دی: ﴿ وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ إِنَّنِي بَرَاءٌ مِّمَّا تَعْبُدُونَ ۝ إِلَّا الَّذِي فَطَرَنِي ﴾».

﴿ بَرَاءٌ مِّمَّا تَعْبُدُونَ ﴾ داد «لا إله»معنی ده، ﴿ إِلا الَّذِي فَطَرَنِي ﴾ یعني «إلا الله» صرف الله .

**❖ كه څوک اوايي: چه د «لا إله إلا الله» معنى: لا مَعبودَ إلا الله؟(دالله نه بغير بل معبود نشته**

مونږ به ورته اوايو چه دا معنى صحيح نه ده،ځكه چه دا د الله نه علاوه ټولوباطلو معبودانو له شامل ده،ليكن كله چه مونږ داسي اوايو چه (لا معبود بحق الا الله) (دالله نه سوا بل معبود حقيقي نشته) نو دي سره د ټولو معبودانو نفي لازم كيږي،نو لهذا دا معنى صحيح ده.

**كه څوک دا اوايي چه د «لا إله إلا الله» معني: لا ربَّ بحقٍّ إلا الله؟ يعني د الله نه سوا بل حقيقي رب نشته.**

مونږ به ورته وايو چه دا خبره صحيح ده ليكن :

او د الله دا قول: ﴿قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَىٰ كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا اللَّهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللَّهِ ۚ فَإِن تَوَلَّوْا فَقُولُوا اشْهَدُوا بِأَنَّا مُسْلِمُونَ﴾(١).

لا إله إلا الله تفسير نه دي ځكه چه دي كي صرف د توحيد ربوبيت ذكر دي،چه دي باندي به دمكي كافرو هم اقرار كولو،ليكن دا په اسلام كي داخليدلو لپاره كافي نه دي. (١) ﴿قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَىٰ كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ﴾ دا ايت د تقريب بين الاديان په حرمت باندي دلالت كوي.

د (أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللهِ)دليل د الله تعالى دا قول دي: ﴿ لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُم بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴾(١).

د أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللهِ شهادت (ګواهي)مطلب: يعني په څه چه يې حکم کړې دي اطاعت يې کول او د څه نه چه يې خبر ورکړې دي د هغې تصديق کول او د څه نه چه يې منع کړې ده د هغې نه ځان منع کول ، او د الله عبادت د نبي کريم صلى الله عليه وسلم راوړل شوي طريقې باندې کول(٢).

(١) مولف رحمه الله دا ايت دلته د محمدرسول الله د ګواهي ورکولو په استدلال کې پيش کړو،او دا يې اوييلي چه الله تعالى دې ايت کې شهادت په درى قسمه تاکيداتو باندې موکد کړې دي:

قسم مقدر(پټ) حرف لام او د(قد) لفظ

(٢) مصنف رحمه الله د(أنَّ محمدًا رسولُ الله)، معنى بيان کړه او دا يې اوييل چه هر مومن نر او ښځې باندې دا واجب دي چه ددې ګواهي تقاضا پوره کړې چه هغه دادي:

درسول الله ﷺ دأوامرو اطاعت،او په څه يې چه خبر راکړې دي د هغې تصديق کول،د څه نه چه يې منع کړې ده ځان لرې کول،او د الله عبادت په هغه طريقه کول چه کوم يې بيان کړې دي .صلوات الله وسلامه عليه.

د (ان محمد رسول الله) ګواهى ورکولو تقاضا: «بيشکه هغه بنده دي عبادت يې نه کيږي او رسول دي تکذيب يې نه کيږي او ددې دا معنى ده:

- رسول الله صلى الله عليه وسلم چه دکوم کارونو حکم کړې دي عمل وربانديې وشي ځکه هغه دالله له طرف نه داعي او مبلغ دي
- دکوم شيانو چه يې خبر ورکړې دي تصديق يې وشي ؛ ځکه هغه صادق او مصدوق دي
- دڅه نه چه يې منع کړې ده ځان ورنه منع کول پکار دي؛ يعني د هغه له طرفه حرام کړې شوي شيان يو طرف ته او ته بل طرفته
- دالله عبادت په داسى طريقه وشي کومه چه پيغمبر بيان کړې ده په دې کې بدعتيانو باندې رد دي.

**(۱) دويم رکن: لمونځ**

دا په يو خاص افعالو او اعمالو باندي د الله تعالی عبادت کول چه شروع يې په تکبير باندي کيږي او انتهاء يې په سلام باندي کيږي،او دا ددين ستن ده،او د الله د طرفنه ډايرکټ په خپل نبي له ورکړي شوي دي، بغير د وحي نه، د معراج په شپه باندي.

**دريم رکن: زکات**

**په لغت کي:** نشونماء (زياتوالي) اوپاکی ته ويلي شي.

**شرعاً:** دا خاص مال کي دخاص خلکولپاره واجب حق ته ويلي شي.

**(۲) څلورم رکن: روژه**

**لغت کي:** دځه شی نه ځان نيول.

**شرعاً:** دصبح صادق نه تر غروب افتاب پوري د الله لپاره دروژي نيت کول او هر هغه څه چه روژه ماتوي د هغی نه ځان ساتلو ته وايي.او روژه د افضله عباداتونه يو عبادت دي ، ځکه چه دي کي د صبر دري قسمونه راجمع کيږي،او غټ شان يي دادي چه الله تعالی دروژي بدله ورکول خپل ځان ته منسوب کړي دي.

**(۳)پنځم رکن: حج**

**لغت کي:** قصد او ارادي ته وايي.

**شرعًا:** درسول الله ﷺ په ښودلي شوي طريقه باندي د الله لپاره د حج فريضي اداء کولو ته وايي..
او دا په هر مسلمان باندي(چه استطاعت يي وي) عمر کي يوځل فرض کيږي.

**دلمونځ او زکات او د توحيد تفسير باندي دليل د الله دا دقول دي:** ﴿وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ وَذَٰلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ﴾(۱).

**دروژی دليل:** ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾(۲).

**دحج دليل:** ﴿وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ﴾(۳).

دویمه مرتبه: ایمان،ددی د اویا(70) نه ډیري حصي دي دتولو نه اوچته حصه یی د لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ ده،او دتولو نه ادنی شعبه يي د لاري نه تکلیف ورکونکی شي اوچتول دي، او حيا د ایمان یوه برخه ده.

**دایمان شپږ ارکان دي:**

په الله باندي ایمان راوړل،په ملائکو باندي ،اسماني کتابونو باندي،رسولانو باندي، داخرت په ورځ باندي او د تقدیر خیر او شر باندي ایمان راوړل.

**او دي شپږ ارکانو باندي دليل دالله داقول دي:**:﴿ليس البر أن تولوا وجوهكم قبل المشرق والمغرب ولكن البر من آمن بالله واليوم الآخر والملائكة والكتاب والنبيين ﴾.

**تقدير باندي دليل:** ﴿إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ ﴾.

## دریمه مرتبه: ایما ن

لغت كي: اقرار او تصديق ته وايي.

شرعاً: په ژبه باندي اقرار كول او زړه باندي تصديق كول او اندامونو باندي عمل كولو ته وايي. ، طاعاتو او عباداتو سره ډیریږي او ګناهونو سره کمیږي.

نو شرعا ایمان کي باید دا ذکر شوي پنځه شیان وي که یو هم پکي نه وي نو د اهل السنة والجماعة په نزد د ایمان مفهوم نه بیا ووځي او هغه پنځه شیان دادي:

قولٌ، وعملٌ، يقين، زیاتوالي ، او کموالي.

**په دي پنځه كارونو باندي څه دليل دي؟**

رسول الله ﷺ فرماييلي دي: (فَأَعْلَاها: قَوْلُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ) يعني دتولو نه اوچته مرتبه يي د لااله الاالله ويل دي، او دا په قول باندي دليل دي.

(وَأَدْنَاهَا إِمَاطَةُ الْأَذَى عَنْ الطَّرِيقِ) دا داندامونو عمل دي.

(وَالْحَيَاءُ) او دا د قلب (زړه)عمل او کار دي.

او د الله تعالی دا قول: ﴿أَيُّكُمْ زَادَتْهُ هَذِهِ إِيمَانًا﴾ دا دليل دي په دي باندي چه ایمان ډیریږي او کله چه ډیریږي نو لازمي به کمیږي هم.اود ایمان کموالي درسول الله ﷺ دي قول کي واضح دي،: ((ما رأيتُ من ناقصاتِ عقلٍ ودِين)) فالدِّين يَنقُص.

## دایمان شپږ ارکان دي :

- په الله باندي ایمان
- په ملائکو باندي ایمان
- اسماني کتابونو باندي ایمان
- په رسولانو باندي ایمان
- دآخرت په ورځ ایمان
- تقدیر خیر او شر باندي ایمان

## اولني ركن: په الله باندې ایمان او دې سره څلور كارونه لازميږي

- **دالله ﷻ په وجود(شته والي) باندي**
  او دا په څلور کارونو سره وي:
- **توحيد ربوبيت باندي ايمان (يعني د الله په رب كيدلو باندي ايمان)**
- **توحيد الوهيت يعني د الله په اله كيدلو باندي ايمان**
- **دالله په اسماء صفاتو باندي ايمان**

### په عقل سره

لکه دا ناممکن ده چه عقل دي بغير د خالق نه د مخلوق تصور وکړي ﴿ أم خلقوا من غير شي أم هم الخالقون﴾

### په حس باندي

په سختئ کي او تکليف کي يې الله ته لاس اوچت کړي د اسمان طرف ته او اوايي يا رب نو د الله په امر دا مصيبت ورنه لري شي.

### فطرت سره

«كلُّ مولودٍ يولَد على الفِطرة، فأبواه يُهوّدانه أو يُنصِّرانه أو يمجِّسانه»هر ماشوم په اسلامي فطرت سره پيدا کيږي ليکن مور او پلار يې يا يهودي کړي يا نصراني او يا مجوسي

### شريعت باندي

ابن قيم رحمه الله فرمايي: په قران کي داسي کوم ايت نشته چه د الله په توحيد باندي دليل نه وي

## دویم رکن: په ملائکو باندي ایمان

**ملائکي د غیبو دنیا سره تعلق ساتي** : الله تعالی د نور نه پیدا کړي دي،د الله تعالی اطاعت کوي نافرماني یې نه کوي،او ددوی روحونه دي، ﴿روح القدس﴾، اوجسمونه یې دي ﴿ جَاعِلِ الْمَلَائِكَةِ رُسُلًا أُولِي أَجْنِحَةٍ مَّثْنَىٰ وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ ۚ يَزِيدُ فِي الْخَلْقِ مَا يَشَاءُ﴾،او عقلونه زړونه یې دي ﴿ حتى إذا فزع عن قلوبهم قالوا ماذا قال ربكم ﴾. زمونږورباندي ایمان دي او په هغه ملائکو مو هم ایمان دي د کوم نومونه چه الله تعالی راښودلي دي لکه (جبریل اومیکائیل اوإسرافیل)،او ددوی په صفاتو هم ایمان لرو ﴿ لَا يَعْصُونَ اللَّهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ ﴾، او هغوی ته سپارل شوي کارونو باندي هم ایمان لرولکه د (عرش وچتولو والا ملائکي)، او هر هغه خبر چه ددوی باره کي ورکړل شوي دي زمونږورباندي اجمالي او تفصیلي ایمان دي.

## دریم رکن: په کتابونوباندي ایمان

په دي باندي ایمان واجب دي چه دا د الله تعالی حقیقي کلام دي نه مجازي،او دا نازل شوي دي مخلوق نه دي،او الله تعالی په هر رسول باندي کتاب نازل کړي دي ، اومونږ په دوی باندي او ددوی په هغه نومونو چه الله تعالی یې خبر راکړي دي او ددوی په خبرونو او هغه احکامو چه منسوخ شوي نه دي اجمالي ایمان لرو، او په دي باندي هم زمونږ ایمان دی چه قران دمخکیني کتابونو نسخ کونکي دي چه هغه: تورات – انجیل – زبور – دابراهیم او موسی علیهما السلام صحیفي دي.

## څلورم رکن: په رسولانو باندي ایمان

په دي خبره ایمان ضروري دي چه ټول رسولان بشر انسانان دي د ربوبیت او د خدایي هیڅ صفات پکي نشته دي، او دوی د الله بنده ګان دی ددوی عبادت نه شي کیدلي ،او الله تعالی لیږلي دي او وحي یې ورته کړي ده،او په معجزاتو باندي یې مظبوط کړي دي، امانت یې اداء کړي دي او امت ته یې نصیحت کړي دي، او د الله په لاره کي یې حق جهاد کړ یدي، په ټولو باندي او د کوم نومونه چه الله تعالی راښودلي دي او خبر یې راکړي دي اجمالا ایمان لرو،او بیشکه او ل د انبیاو آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ، او اول د رسولانو نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ،او اخر د انبیاو او رسولانو محمدٌ ﷺ دي، او مخکیني شریعتونه ټول دمحمد ﷺ په شریعت سره منسوخ شوي دي، او اولو العزم پیغمبران پنځه دي،چه سورت احزاب او سورت شورى کي ذکر شوي دي: (محمَّدٌ ﷺ، نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ، إبراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ، موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ، اوعیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ).

## پنځم رکن: داخرت په ورځ ایمان

په دي ایمان کي ټول هغه څه شامل دي د کوم خبر چه رسول الله ﷺ ورکړي دي کوم چه د مرګ نه بعد واقع کيږي،لکه د قبر ازمائش(فتنه) دشپيلى وهل ، دقبرونو نه د خلکو راپاڅيدل،ميزان،عمل نامي،پل صراط،حوض کوثر،شفاعت، جنت او اور ،د قيامت په ورځ د مؤمنانو د خپل رب ليدل، او همدارنګه په جنت کي،اوداسي نوردغيبو کارونه.

## شپږم رکن: په تقدير باندی ایمان (خير اوشر)

او دا څلور کارونوله شامل دی:

### عِلمُ

په دي باندي ايمان چه الله تعالى په هر شي دمخکي نه په هر څه باندي اجمالي او تفصيلي خبراداراوعالم دي.

### کتابت

په دي باندي ايمان چه تر قيامته پوري کوم کارونه کيږي ټول الله تعالى ليکلي دي.

### مشيئت(اراده)

په دي باندي ايمان چه الله وغواړي هغه کار به کيږي او چه الله ونه غواړي هيڅ به هم نه کيږي او د بنده هم اراده شته ليکن د الله داراداي ماتحته ده. ﷻ

### خَلْق

په دي باندي ايمان چه ټول کائنات په ذات او صفات او حرکاتو سره او ددوی اعمال د الله تعالى مخلوقات دي الله پيداکړي دي. دليل: ﴿الله خلق كل شي﴾، ﴿والله خلقكم وما تعملون﴾

**او دا څلور مرتبي شاعرپه دي منظوم کلام کي راجمع کړي دي:**

عِلْمٌ، كِتابَةُ مَولَانا، مَشِيْئَتُه، وَخَلْقُهُ وَهُو إيْجَادٌ وَتَكْوِيْنُ

**دريمه مرتبه:** احسان دي، او ددي يو ركن دي؛ او هغه دا ◌ «أنْ تَعْبُدَ اللهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ فَإِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ».چه ته د الله داسي عبادت وكړى لكه ته چه يي ويني كه ته يي نه ويني نو بيشكه هغه د ويني.

اوددي باندي دليل: ﴿ إِنَّ اللَّهَ مَعَ الَّذِينَ اتَّقَوا وَّالَّذِينَ هُم مُّحْسِنُونَ﴾، وقَوْلُهُ: ﴿ وَتَوَكَّلْ عَلَى الْعَزِيزِ الرَّحِيمِ * الَّذِي يَرَاكَ حِينَ تَقُومُ * وَتَقَلُّبَكَ فِي السَّاجِدِينَ * إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴾.

اود الله دا قول:﴿وَمَا تَكُونُ فِي شَأْنٍ وَمَا تَتْلُو مِنْهُ مِن قُرْآنٍ وَلَا تَعْمَلُونَ مِنْ عَمَلٍ إِلَّاكُنَّاعَلَيْكُمْ شُهُودًاإِذْ تُفِيضُونَ فِيهِ﴾.

**دريمه مرتبه: احسان**

او دا ددين د اوچتو مرتبو نه دي ، او ددي نه لاندى دوه مرتبى دى :

| دمراقبي عبادت(عبادة المراقبة) | دمشاهدي عبادت(عبادة المشاهدة) |
| --- | --- |
| دالله د يري او د هغه د عذاب نه د بچ كيدلو لپاره عبادت كول. او ددي مرتبي په هر مسلمان كي پيدا كيدل ضروري دي. | دالله سره چه خه دى د هغي دحاصلولو لپاره په رغبت او شوق سره عبادت كول.مثال يي لكه د انبياو رسولانو عبادتونه،او درسولانونه بغير نورو خلكو له هم امكان شته چه دي مرتبي ته ورسيږي. |

**وضاحت:** ددي دا معنى نه ده چه ددي مرتبي والا سره به صرف د الله محبت وي ،او د خوف او يرى نه لري وي ؛ليكن په دي مرتبه كي د بنده لپاره دعبادت كولو درغبت قوي وسيله ذكر شوي ده چه هغه محبت دي د الله تعالى،او ددى وجي نه نبي ﷺ فرمايلي دي ((أفلا أكونُ عبدًا شكورًا)).

داحديث داسلام او ايمان او احسان ارکانو باندي دليل دي.

درسول الله ﷺ دا قول: ((**ما المسؤول عنها بأعلمَ من السائل**)) دليل دي په دي باندي چه دقيامت د قائميدلو علم د الله نه بغير بل چاته نشته.

**درسول الله ﷺ داقول(( أن تلد الأمة ربَّتها )) ددې مختلفي معنى ګاني دي**

دنافرمانی ډيروالي

دغلامانو ډيروالي

دحالاتو بدلون

يعني بادشاه به د خپلي وينځي سره واده وکړی او د هغی نه چه زوي پيدا شي د پلار د مرګ نه بعد به باشاه وي او د خپلي مور اقا او سيد به وي.

**((وَأَنْ تَرَى الحُفَاةَ العُرَاةَ العَالَةَ))** العالة: يعني فقيران.((**العَالَةَ رِعَاءَ الشَّاءِ يَتَطَاوَلُونَ فِي البُنْيَانِ**)) يعني حالات به بدل شي فقيري به په مالدارۍ بدله شي .

**او سنت نه ددي دليل:** دجبراييل مشهور حديث دي چه د عمر -رضي الله عنه-نه روايت دي فرمايي: ((يوه ورځ مونږ درسول الله ﷺ سره ناست وو، په دي کي يو سړي چه سپينو کپړو،او تورو ويښتو والا وو راښکاره شو،په دي سړی د سفر کوم اثرات هم نه وو او نه مونږ کي چا پيژندلو،دنبي ﷺ سره کيناستلو زنګنونه يي ورسره ولګول او لاسونه يي درسول الله ﷺ په زنګنونو کيښودل او ويي وييل : اي محمده ! ماته داسلام باره کي خبر راکړه.رسول الله ورته وفرماييل:اسلام ديته وايي چه د لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللهِ ګواهي ورکړي ،لمونځ قائم کړی زکات اداء کړي او درمضان روژه ونيسي، او حج وکړي که استطاعت يي وو. ورته وايي ريشتيا دي اوويل:عمر رضي الله تعالى عنه فرمايي: تعجب مو ورته وکړو چه سوال هم کوي او تصديق هم کوي،بيا وايي د ايمان خبر راکه ايمان څه ته وايي: نو ورته يي وفرماييل:ايمان دي ته وايي چه په الله او ملائکو او اسماني کتابونو او رسولانو او د آخرت په ورځ او د تقدير (خير او شر باندي ايمان راوړي )بيا وايي ريشتيا دي اوويل، د احسان نه خبر راکه احسان څه ته وايي:ورته فرمايي احسان ديته وايي چه : د الله داسي عبادت وکړی لکه ته چه الله ويني او که ته يي چرته نه ويني نو بيشکه دا الله تا ويني) بياوايي د قيامت دورځي خبر راکړه؟ ورته يي وفرماييل د چا نه چه سوال کيږي هغه دسوال کونکی نه ډير عالم نه دي په دي باندي، بيا يي ورته اويل د قيامت د نښو خبر راکړه؟ ورته يي وفرماييل چه:چه وينځه به خپل سيد وزيږوي (پيدا به يی کړي) او بربنډ غريبانان د ګډو بيزو والا خلک به اوچت اوچت بلډنګونه شروع کړي خاوندان به يی شي، راوي وايي چه دا سړي لاړو لږ وخت بعد رسول الله ﷺ وفرمايل اي عمره ايا پوهيږي دا څوک وو؟ما ورته اوويل چه الله او د الله رسول ښه پوهيږی ويي فرماييل ((داجبراييل وو تاسو ته ددين ښودلو لپاره راغلي وو)).

## دجبرایيل د حديث نه ځينې فايدې

۱. **طالب علم باندي دري حقونه دي:**د خپل نفس حق،داستاذانو حق،په کوم ځاي کي چه علم حاصلوي د هغي حق، دملګرو حق، او کوم علم چه يي حاصل کړي دي د هغي حق.

-**دنفس حق:** اخلاص؛ ځکه د علم طلب عبادت دي، او عبادت کي پکار ده چه دوه شرطونه لازمي وي:

۱.اخلاصُ .

۲- متابعت او پيروي کول (درسول الله ﷺ د سلفو صالحينو طريقه خپلول.

**داستاد حق:** خلک په دي باب کي د افراط او تفریط شکار دي او ځینی خلک اعتدال پسند دي،روسته به ذکر راشي چه د ځمکي په سر چه اولني شرک شوي دی د صالحینو سره د محبت کي د غلو د وجي نه شوي دی،نو لازمه خبره ده چه باید خلک محبت کي توسط او اعتدال وکړي، نه باید افراط او تفریط وکړي.

**- دهغه ځاي حق چه کوم ځاي کي علم حاصلوي.**

**-دملګرو حق:** رسول الله صی الله علیه وسلم ﷻ فرمايي: ﴿كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ﴾، وقال ﷺ: ((لا يؤمن أحدكم حتى يحب لأخيه ما يحب لنفسه)).

**-دکتاب حق:** یعني د کتابونو حفاظت به کوي، ځکه الله تعالی مونږ باندي ددي کتابونو په نازلولو باندي نعمت کړی دي، نو لازمي خبره ده چه حفاظت يي وکړو.

**-دعلم حق:** په دي معنی چه ددي حفاظت وکړي،او همیشه يي ټینګ کړي او بار بار مراجعه وکړي،او عمل وربانديي وکړي، ځکه چه څوک علم حاصل کړي بیا وربانديي عمل کول واجب دي، بیا ددي نه وروسته به دي علم ته دعوت وکړي،ځکه دا یو نعمت دي،او د نعمت شکر پکار دي.

٢. دسوال کولو اداب دادي چه باید دداسی سوال اختیار وکړي شی د کوم چه فایده او نفع عامه وي.

٣.طالب علم له دا مناسبه ده چه د خپل هیئت حسن او ښایستوالی باندي اهتمام وکړي.

٤.درسول الله ﷺ دوفات نه بعد دا ويیل نه دي پکار چه الله او د الله رسول ښه پوهيږي،بلکه دا ويیل دي چه الله تعالی ښه پوهيږي اللهُ أعلم.

دا حصه د نبي كريم ﷺ مختصر سيرت او د هغه تعارف چه نوم نسب او عمر او څه دعوتي كارونو باندي مشتمل دي :

**درسول الله ﷺ باره كي ځيني خبري يادول ضروري دي:**

**درسول الله صلى الله عليه وسلم نوم اونسب:**

هغه محمد د عبدالله زوي د عبدالمطلب زوي،دهاشم زوي،او هاشم د قريشو نه دي،او قريش د عربو د نسل نه دي د اسماعيل عليه السلام چه د ابراهيم خليل عليه السلام زوي دي .

**درسول الله صلى الله عليه وسلم عمر:**

درسول الله صلى الله عليه وسلم ۶۳ كاله عمر وو خلويښت كاله د نبوت نه مخكي او ۲۳ د نبوت نه بعد.

دريم اصل: د خپل پيغمبر پيژندنه معرفت.

هغه محمد د عبدالله زوي د عبدالمطلب زوي،دهاشم زوي،او هاشم د قريشو نه دي،او قريش د عربو د نسل نه دي د اسماعيل عليه السلام چه د ابراهيم خليل عليه السلام زوي دي

درسول الله ﷺ ۶۳ كاله عمر وو خلويښت كاله د نبوت نه مخكي او ۲۳ د نبوت نه بعد پيغمبر او رسول.

نبوت ورته په[ اِقْرَأْ ]، او سورت [الْمُدَثِّرِ].باندي وركړل شوي دى.

اباي وطن يي مكه دي او مديني ته يي هجرت كړي دى.

**درسول الله ﷺ نبوت دوره په دوه قسمه ده:**

| مدني دور | مكي دور |
| --- | --- |
| او دا لس كاله وو | او دا ۱۳ كاله وو |

**محمد ﷺ نبي وو كه رسول؟**

هغه نبي او رسو ل دواړه وو،په اقرأ باندي نبي وو او په مدثر باندي مبعوث شوي وي. صلوات الله وسلامه عليه .

## دسیرت رسول ﷺ ځینې برخه

نبيِّ صلواتُ الله وسلامُه عليه له په اقرأ باندي نبوت ورکړل شو او بيا په مدثر باندي مبعوث کړي شو.

مکي دور کي درسول الله دعوت توحيد او دشرک نه لري کيدلو او الله ته عبادت خالص کولو باندي خاص وو. او دا دعوت ۱۳ کاله وو.

بيا ورته مديني منورې ته د هجرت حکم وکړي شو،همدارنګه دلته هم دعوت په توحيد باندي مبني وو، او اضافي نور ددين باقي احکامات لکه عبادات معاملات او نور د زندګي متعلق احکامات نازل شو.

ليکن د هغه په سيرت او دعوت کی کتونکی دا محسوس کوي او دا مني چه د توحيد دعوت يي تر وفات پوري نه وو پريښي،او په دي کي ښکاره او واضحه رد دي په هغه چا باندي چه وايي توحيد ضروري نه دي او خلک دتوحيد دتعليم نه لري کوي او وايي لړ څه وخت ورکول پکار دي .

الله تعالى د شرک نه د يرولو او د توحيد طرف ته دعوت کولو لپاره راليږلي وو، او دليل وربانديي د الله دا قول دي : ﴿ يا أيها المدثر قم فأنذر وربك فكبر وثيابك فطهر والرجز فاهجر ولا تمنن تستكثر ولربك فاصبر﴾.
او د ﴿ قم فأنذر﴾معنى دا ده :چه د شرک نه خبرداري ورکړي او د توحيد طرف ته دعوت وکړي. ﴿ وربك فكبر ﴾ يعني د توحيد سره د الله عظمت هم بيان کړه.
﴿ وثيابك فطهر﴾يعني خپل اعمال د شرک نه پاک کړه:.
﴿ والرجز فاهجر ﴾ الرُّجْزُ: بتانو ته وايي يعني د بتانو نه لري شه او د بتانو او د بتانو والا نه براءت اظهار وکړه.،
دي توحيد ته دعوت کي د رسول الله صلى الله عليه وسلم لس کاله تيرشو او بيا الله تعالى د معراج سفر ور نصيب کړو او پنځه لمونځونه وربانديي فرض کړی شو.
دري کاله يي مکه کي لمونځونه وکړل بيا ورته مديني ته د هجرت حکم وکړی شو.

**دمولف رحمه الله داقول: (ثم عُرِجَ إِلَى السَّمَاءِ)** بيا اسمان ته وخيژول شو ددي نه ځيني فايدي اخلو:

۱ رسول الله ﷺ چه کوم د غيبو خبر راکړي دي زمونږ عقيده به وربانديي داوي چه : آمنا وسلمنا

۲ . دفرض لمونځونو اهميت ښکاره کيدل:او هغه دا چه الله تعالى د اسمانونو له پاسه فرض کړي دي.

**هجرت په درې قسمه دي :**

| | | |
|---|---|---|
| کافر ملک نه د مسلمان ملک ته هجرت کول<br>او دا واجب دي | دمکي نه مديني ته هجرت<br>دمکې د فتح کيدلو نه وروسته دا ختم شو (منسوخ دي) | دهر هغه څه پرېښودل چه الله يې د پرېښودلو حکم کړی وي که هغه د عمل ياد عمل کونکی يا د وخت او مکان سره تعلق ساتي |

**او هجرت:** د کفر او شرک ملک نه اسلامي ملک ته نقل کيدل دي،او دي امت باندې د شرک او د کفر د ملک نه اسلامي ملک ته هجرت کول فرض دي،او دا تر قيامته پورې دا حکم دي،او دليل وربانديې دا الله دا قول دي: ﴿إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ ظَالِمِي أَنفُسِهِمْ قَالُوا فِيمَ كُنتُمْ قَالُوا كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِي الْأَرْضِ قَالُوا أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُوا فِيهَا فَأُولَٰئِكَ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَسَاءَتْ مَصِيرًا إِلَّا الْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ وَالْوِلْدَانِ لَا يَسْتَطِيعُونَ حِيلَةً وَلَا يَهْتَدُونَ سَبِيلًا فَأُولَٰئِكَ عَسَى اللَّهُ أَن يَعْفُوَ عَنْهُمْ وَكَانَ اللَّهُ عَفُوًّا غَفُورًا﴾، او د الله دا قول: ﴿يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ أَرْضِي وَاسِعَةٌ فَإِيَّايَ فَاعْبُدُونِ﴾.بغوي رحمه الله فرمايي«ددې ايت د نازليدلو سبب هغه مسلمانان دي کوم چه مکه کې وو او هجرت يې نه وو کړی، الله ورته د ايمان خطاب وکړو،او د سنتو نه په هجرت باندې دليل دادی قَوْلُهُ ﷺ: ((لَا تَنْقَطِعُ الهِجْرَةُ حَتَّى تَنْقَطِعَ التَّوْبَةُ، وَلَا تَنْقَطِعُ التَّوْبَةُ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا)).دهجرت دروازه تر هغه نه بنديږي چه تر څو د توبې دروازه نه وي بنده شوې.او د توبې دروازه تر هغه نه بنديږي تر څو چه لمر د مغرب نه راونه خيژي.

**عَمَلْ:** هر هغه کار چه الله تعالی حرام کړی وي او په سر کې يې شرک دي.. **عمل کونکي:** کافر منافقين او داسې نورو نه ځان ساتل. **وخت:** دهغه وختونو نه ځان ساتل کوم چه د کفارو اود مشرکينو اخترونه او تهوارونه وي ځان ساتل. **ځاې:** هغه ځاينو نه ځان ساتل چرته چه کفار مشرکين خپل اخترونه او تهوارونه کوي .

* دتوبې د ختميدلو وخت: ١.د لمر د غروب نه راختل (دلمرد پريوتو نه راختل).

٢.او يا د مرګ حاضريدل ﴿وَلَيْسَتِ التَّوْبَةُ لِلَّذِينَ يَعْمَلُونَ السَّيِّئَاتِ حَتَّىٰ إِذَا حَضَرَ أَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ إِنِّي تُبْتُ الْآنَ وَلَا الَّذِينَ يَمُوتُونَ وَهُمْ كُفَّارٌ أُولَٰئِكَ أَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا﴾.

* درسول الله ﷺ دا قول:((لا هجرةَ بعد الفَتح)) دمکې د فتحې نه وروسته هجرت نشته.
يعنې د مکې نه مديني ته هجرت، او په دې کې دې خبرې ته اشاره ده چه مکه بيا د کفر ځاې نه شي جوړيدلې.

**کله چه رسول الله ﷺ مدینه کې مستقل شو بیا د اسلام باقي احکامات لکه : زَکَاة،** روژه، حج، جِهَادِ اذَانِ، نیکی ته رابلل د بدی نه منعه کول، او داسې نور دیني احکامات نازل شول.

**ددې کارونو په تبلیغ کې رسول الله صلی الله علیه وسلم لس کاله تیرکړل**. او بیا رسول الله ﷺ وفات کیږي. صَلَوَاتُ اللهِ وَسَلَامُهُ عَلَيْهِ(٢).

لیکن د هغه دین پاتي دي،باقي دي، او دا يي دین دي، چه هیڅ د خیر خبره او کار نشته مګر امت ته يي ښودلي ده،او هر د شر کار يي هم امت ته ښودلي دي او خلک يي ورنه منعه کړي دي. او د نیکی طرف ته چه يي دعوت کړي دي هغه توحید دي او هر هغه کار چه الله ته محبوب دي.او وربانديي رضاء کیږي.
او د بدی نه چه يي منعه کړي ده هغه : شرک دي او هر هغه کار چه الله تعالی ورنه منعه کړي ده او بد يي ګڼي. (٣).

# لوي ګناهونه (محرمات)

- شرک
  - شِرکٌ أکبرٌ (داسلام نه خارجونکي دي)
  - شِرکٌ أصغرٌ (داسلام نه خارجونکي نه دي)
- بیا بدعتونه
- بیا ګناهونه
  - لوي ګناهونه (چه کوم باندي خاص سزا مقرر کړي شوي وي)
  - واړه ګناهونه (هغه حرام کارونه چه خاص سزا ورله نه وي مقرر شوي)

(١) شیخ ابن عثیمین رحمه الله فرمايیلي دي: «دزکات فرضیت اول په مکه کې شوي دي،:لیکن د زکات اندازه او نصاب نه وو معلوم شوي ،لیکن په مدینه کې بیا د زکات اندازه فرض کیدل تول بیان کړي شو.».

(٢) رسول الله ﷺ د هجرت نه وروسته په لسم کال کې وفات شو او د أم المومنین عائشة رضي الله تعالی عنها په حجره کې دفن کړي شو.

(٣) داسی کومه نیکي او د خیر کار نشته چه خپل امت ته يي د هغي دعوت نه وي ورکړي ا و نه داسي شر او بدي شته چه امت يي ورنه منع کړي نه وي،لهذا په مونږ باندي دا واجب دي چه ددي ګواهي ورکړو چه هغه پوره طریقه باندي امانت اداء کړي دي، امت ته يي نصیحت کړي دي، او د الله په لاره کې يي حق جهاد کړي دي، او مونږ يي په سپینه پاکه لاره پریښي یو،چه شپه يي د ورځي په رنګه ده، چه د هغي نه صرف هلاکیدونکی انسان اخوا کیدلي شي

(١) رسول الله ټولو خلکو ته پيغمبر راليږل شوي وو. او د هغه په راتلو باندي مخکيني ټول شريعتونه منسوخ شوي دي،نو يهود او نصارى که د رسول الله ﷺ په وخت کي وو، او که زمونږ په وخت کي وو، که دعوت ورته رسيدلي وي او نه يي وي منلي ، هغه کافر دي،اګر که هغه د موسى او عيسى عليهم السلام په دين باندي ولي نه وي.او په دي باندي دليل:

١-د الله ﷻ دا قول: ﴿ قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَىٰ كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا اللَّهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا﴾.

٢-او د الله ﷻ داقول: ﴿قَاتِلُوا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ﴾

٣.- درسول الله ﷺ دا قول: ((د الله په هغه ذات مي دي قسم وي چه کوم يهودي او يا نصراني زما باره کي واوري خبر شي او ايمان رانه وړي ما باندي مګر هغه به د جهنم والا وي)).

الله تعالى ټولو خلکو ته راليږلي دي، او الله تعالى په ټولو انسانانو او پيريانو باندي د هغه اطاعت فرض کړي دي.او دي باندي دليل د الله تعالى دا قول دي: ﴿ قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا﴾(١).

او الله تعالى دده په ذريعه دين مکمل کړي دى، او دليل يي دادي: ﴿ الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا﴾(٢)

او درسول الله ﷺ وفات باندي د الله دا قول دليل دي: ﴿ إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُم مَّيِّتُونَ ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عِندَ رَبِّكُمْ تَخْتَصِمُونَ﴾.

## پنځم: خـاتمة

**کله چه خلک مړه شي هغوی بیا ژوندي کیږي** او دلیل وربandي د الله دا قول دي: ﴿مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرَى﴾.
او د الله دا قول: ﴿وَاللَّهُ أَنبَتَكُم مِّنَ الْأَرْضِ نَبَاتًا ثُمَّ يُعِيدُكُمْ فِيهَا وَيُخْرِجُكُمْ إِخْرَاجًا﴾. اود بیا ژوندی کیدلو نه وروسته هغوی سره حساب کیدونکي دي او د اعمالو جزاء او بدله ورکونکي ده، او دلیل وربandي د الله دا قول دي: ﴿وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ لِيَجْزِيَ الَّذِينَ أَسَاءُوا بِمَا عَمِلُوا وَيَجْزِيَ الَّذِينَ أَحْسَنُوا بِالْحُسْنَى﴾(١).او چاچه د مرګ نه وروسته راژوندي کیدل دروغ وګڼه هغه کافر شو، او دلیل یې دادي: ﴿زَعَمَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَن لَّن يُبْعَثُوا ۚ قُلْ بَلَىٰ وَرَبِّي لَتُبْعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ بِمَا عَمِلْتُمْ ۚ وَذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ﴾ (٢).الله تعالی ټول رسولان زیري ورکونکي او یره ورکونکی رالیږلي دي او دلیل یې دادي: ﴿رُّسُلًا مُّبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ﴾. دټولو نه او لني نوح علیه السلام دي او د ټولو نه اخرني محمد صلی الله عله وسلم دي چه خاتم النبین دي .
او د نوح علیه السلام په اولني کیدلو باندي دلیل دادي:: ﴿إِنَّا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ كَمَا أَوْحَيْنَا إِلَىٰ نُوحٍ وَالنَّبِيِّينَ مِن بَعْدِهِ﴾(٣).

(١)ټول خلک یقیني طور باندي د مرګ خوند اخستونکي دي خلاصي ورنه نشته،او د هغه لویي ورځي قیام ته راټولیدونکي دي، او بیا حساب ورکونکي دي او د خپل عمل بدله او جزاء د عمل برابر لیدونکي دي.

(٢) چاچه د مرګ نه بعد راژوندي کیدل دروغ وګڼل او انکار یې وکړو نو هغه کافر شو، ځکه چه هغه د ایمان د رکن نه انکار وکړو.

(٣) نوح علیه السلام اول د رسولانو نه دي
او دلیل وربandي دالله داقول دي: ﴿ إِنَّا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ كَمَا أَوْحَيْنَا إِلَىٰ نُوحٍ وَالنَّبِيِّينَ مِن بَعْدِهِ﴾
مګر اول د انبیاو ادم علیه السلام دي،او دلیل وربandي دادي چه درسول الله صلی الله علیه وسلم نه د ادم په باره کي تپوس وشو نو هغه وفرمایېل چه : داسي نبي دي چه الله ورسره خبري کړي دي.
او اخر د انبیاو او محمد ﷺ ، دلیل وربandي د الله دا قول دي: ﴿مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَٰكِن رَّسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ﴾
نو هر چا چه درسول الله صلی الله علیه وسلم نه وروسته د نبوت او رسالت دعوه وکړه هغه کافر او دروغجن دي، او هر چا چه یې تصدیق وکړو ددي کافر هغه هم دده په رنګه کافر دي.

الله تعالی ټول انبیاء د ښه اعمالو د خوشخبری او د بدو اعمالو د انجام نه د يرولو لپاره راليږلی دي.او د ټولو انبياو او رسولانو ددعوت بنياد توحيدته دعوت او شرک او طاغوت نه انکار دي،چه دليل يې دادي: ﴿وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ﴾ يعني هر امت او هره ډله کې ؛ ﴿أَنِ اعْبُدُواْ اللّهَ﴾يعني صرف د يو الله عبادت وکړي الله يو وګڼی په عبادت کې، ﴿وَاجْتَنِبُواْ﴾ يعني طاغوت يوطرف ته او تاسو بل طرف ته،او دا دهغوی او د هغوی د عبادت نه دلرې کيدلو ښه لاره ده او دا د مشرکينو او شرک نه د براءت ښه تحقيق او لاره ده.

الله تعالی په ټولو بنده ګانو باندي دا فرض کړي دي چه په الله باندي ايمان راوړي او طاغوت باندي کفر وکړي. او لازمي خبره ده چه په الله باندي دايمان راوړلو نه مخکي په طاغوت باندي کفر او انکاروکړي، ﴿ فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِنْ بِاللَّهِ﴾.

او طاغوت: هر هغه شي چه دهغي په ذريعه بنده خپل حد نه پکي تجاوز وکړي،اګر که د معبود په حق کې وي لکه د(کاني او ونو عبادت )او يا د مشرانو لکه پيرانو علماء سوء )او يا د هغه بادشاهانو په حق کې د الله دطاعت او حکم نه وتلي وي، طاغوت ډير دي ليکن دا پنځه يې مشران او لوي دي: إبليس ملعون (او شيخ دلته دا لعنت د اخبار د وجی نه کړي دي)، او بل هغه څوک چه عبادت يې وکړي شي او هغه ورباندي رضا وي، او چا چه خلک خپل عبادت له راوبلل.او چاچه د غيبو د علم څه دعوه وکړه.او چاچه د الله دنازل کړي شوي حکم نه بغير په بل څه باندي فيصله وکړه.،

الله تعالی په ټولو بنده ګانو باندي دا فرض کړي دي چه په طاغوت باندي کفر وکړي او الله باندي ايمان راوړي، **ابن القيم رحمه الله فرمايي:-** «طاغوت هر هغه شي دي چه دکوم په ذريعه انسان خپل حد نه تجاوز وکړی که هغه معبود وی اوکه پرستار او که اقا پير سيد وي) دنوح عليه السلام نه تر محمد ﷺ پوري امتونوته چه الله تعالی پيغمبران ليږلي دي هغوی الله ته ديووالي دعبادت حکم کړي دي،اود طاغوت د عبادت نه يې منعه کړي دي،او دليل ورباندي دالله دا قول دي:، ﴿وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ﴾.

طاغوت ډير دي ليکن دا پنځه يې مشران اولوي دي:

إبليس ملعون (او شيخ دلته دا لعنت د اخبار د وجی نه کړي دي)، او بل هغه څوک چه عبادت يې وکړي شي او هغه ورباندي رضا وي، او چا چه خلک خپل عبادت له راوبلل.او چاچه د غيبو د علم څه دعوه وکړه.او چاچه د الله دنازل کړي شوي حکم نه بغير په بل څه باندي فيصله وکړه. او دليل يې دا الله قول دي: ﴿لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِۖ قَد تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّۚ فَمَن يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِن بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ لَا انفِصَامَ لَهَاۗ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ﴾، او دا د «لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ».معنی ده او په حديث کې دي:((رَأْسُ الأَمْرِ الإِسْلَامُ، وَعَمُودُهُ الصَّلَاةُ، وَذِرْوَةُ سَنَامِهِ الجِهَادُ فِي سَبِيْلِ اللهِ)).

اصل شي اسلام دي،او ستن يې لمونځ دي،او په اسلام کې اوچت شي او اعلی شي د الله په لاره کې جهاد دي)

طاغوت ډیر دي لیکن دا پنځه یې مشران او لوی دي:
إبلیس ملعون (او شیخ دلته دا لعنت د اخبار د وجی نه کړي دي)، او بل هغه ځوک چه عبادت یې وکړي شي او هغه ورباندي رضا وي، او چا چه خلک خپل عبادت له راوبلل.او چاچه د غیبو د علم څه دعوه وکړه.او چاچه د الله دنازل کړي شوي حکم نه بغیر په بل څه باندي فیصله وکړه. او دلیل یې دا الله قول دي: ﴿لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِۖ قَد تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّۚ فَمَن يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِن بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ لَا انفِصَامَ لَهَاۗ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ﴾، او دا د «لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ».معنی ده او په حدیث کي دي:((رَأْسُ الأَمْرِ الإِسْلَامُ، وَعَمُودُهُ الصَّلَاةُ، وَذِرْوَةُ سَنَامِهِ الجِهَادُ فِي سَبِيْلِ اللَّهِ)). اصل شي اسلام دي،او ستن یې لمونځ دي،او په اسلام کي اوچت شي او اعلی شي د الله په لاره کي جهاد دي)

**دالله د نازل کړي شوي شريعت نه بغيرپه بل څه باندي فيصله کول ، دي کي تفصيل دی::**

**کُفر**

که چرته دا عقيده يي وساتله چه د بنده فيصله د الله د فيصلي په رنګه ده او يا دالله د فيصلي نه افضله ده.

**کُفردون کُفر**

څوک چه دا عقيده وساتي چه دالله دشريعت نه بغيرپه بل څه فيصله کول باطل دي خو ليکن د خواهش دنياپرستی منصب او رياست لپاره وربانديي فيصله کوي.

**امام ابن الجوزي رحمه الله جهاد په څلور مرتبو تقسيم کړي دي:**

**دنفس سره جهاد**

او دا په علم او عمل او دالله په لاره کي دعوت اوصبر کولو سره وي.

**دشيطان سره جهاد**

او دا د شبهاتو او شهواتو پريښودلو سره وي.

**دکافرو سره جهاد**

او دا په زړه او ژبه او اندامونو او مال باندي وي.

**دمنافقينو سره جهاد**

او دا په زړه او ژبه او اندامونو او مال باندي وي.

دهغه چاسره چه ماانزل الله نه بغير باندي فيصله کوي

خاتمة :

په هر عاقل او دانشمند باند ي دا واجب دي چه ددي کتاب په متن باندي خاص اهتمام وکړي څکه دي کي هغه لوي او غټ او ضروري اصول دي چه کوم ته انسان په قبر کي هم ضرورت لري.

هذا و اللهُ أعلَمُ ، وصلَّى اللهُ على محمَّدٍ وعلى آله وصَحبه وسلَّم

## دقبر ددري سوالونو د شرح امتحان

صحيح جواب انتخاب کړه:

١- اصول ثلاثه دقبر دري سوالونه دي؟ (صحيح – غلط)

٢- مولف په اصول ثلاثه کي طالب ته دعاء کړي ده په:(دوه ځايونو کي – دري ځايونو کي)

٣- دمولف د کتابونو خصوصيت (اسان عبارت– اجمالي او تفصيلي بيان– دقران او سنت نه دلائل بيانول– طالب علم ته دعاء کول– دمعاصرينو په شبهوباندي ردکول– دشرحو ډيروالي– مهمو سوالونو جواب کول– دالله په توفيق سره د خلکو په منځ کي ددي کتاب مقبوليت– داټول ذکر کړي شوي)

٤- دقبر ددري سوالونو د متن کتاب څو حصو ته تقسيميدلي شي؟ (پنځه – شپږ)

٥- دتوحيد يادول: (فرض کفايي دي – فرض عين دي)

٦- دځلورمسائلو دليل؟ (سوره العصر – سوره الإخلاص)

٧- څوک چه علم وکړي او عملورباندي ونه کړي نو مشابهت يي دي د : (نصارا – يهود – دي ټولو سره) دي

٨- صبر په څو قسمه دي (دو قسمه – دري قسمه)

٩- دسورت العصر باره کي د امام شافعي قول څه دي؟ (دحجت قائمولو لپاره کافي دي– که نور سورتونه نه وو نو دا سورت کافي وو.)

١٠- څوک چه د توحيد په يو قسم باندي ايمان راوړي او نورو باندي يي نه راوړي نو موحد نه دي: ( صحيح ،خطا)

١١-دشرک او مشرکينو نه براءت وي په: (په زړه ژبه او اندامونو باندي/دعمل او عامل نه په براءت /ددي ټولو نه په براءت سره).

١٢- دالله په دي قول کي مراد " و أن المساجد لله " نه مراد: (دمسجدونو جوړول،/ دسجدي اندامونه،/ هغه ځمکه چه ورباندي سجده کيږي، /داټول ذکر شوي کارونه).

١٣-دسلف علماو طريقه: (دليل راوړل بيا اعتقاد کول، /اعتقاد بيا دليل بيانول)

١۴- کوم علماء چه ګمراه شوي دي هغوی کي مشابهت دي د : ( يهودو / ، نصارا ) سره

## دقبر ددري سوالونو د شرح امتحان

۱۵- هر څوک چه زمونږ د عابدانو نه ګمراه شي هغوی مشابهت د : ( یهود، نصارا) سره دي.

۱٦-دري مسائل همدا دري اصول دي : (صحیح، خطا )

۱۷-ددعاء اقسام: (دعاء عبادت ،دعا مسألة، دعاء زبان حال، زبان مقال)

۱۸-دعاء مساله په : (دوه قسمه ده ، په څلور قسمه ده).

۱۹-په اسبابو باندي دعقیدي په لحاظ خلک تقسیم شوي دي په : دوه طرفه او وسط باندي، شرک اکبرو شرک اصغر)

۲۰-مخلوق باندي استغاثه جائز ده :( په هغه څه کي چه ورباندي قادر و ي -هغه څه کي چه د څلورو شرطونو په بنیاد ورباندي قادر وي)

۲۱-دلااله الا الله معنی : (اختراع باندي قادر دي، دالله نه بغیر بل معبود نشته، دالله نه بغیر بل معبود برحق نشته)

۲۲-تقریب بین الادیان: (جایز دي، ګناه کبیره ده، کفردي)

۲۳- دالله په وجود اجمالي دلائل : (ډیر دي، څلور دي)

۲٤-ایا ملائکي زړونه لري: (هو ، نه)

۲۵-دایمان او توحید علاقه،ایمان عام دي او توحید دایمان برخه ده: : (صحیح، خطا )

۲٦-دایمان ارکان: (٦،٥ ، ٧ )

۲۷-دمشرکینولپاره هم د الله د عبادت څه حصه شته: (صحیح، خطا )

۲۸-دچاچه د الله نه بغیر عبادت وشي او هغه ورباندي راضی نه وي : (طاغوت دي، طاغوت نه دي)

۲۹-دالله تعالی ددنیا په تدبیر کي او باران راښکته کولو کي یواځي ګڼلو ته کوم یو توحیدوایي : (الوهیت ، ربوبیت، اسما وصفات)

۳۰- دتوحید داصل سره کوم شي منافي دي؟ : (شرک اکبر، شرک اصغر)

۳۱- دمور او پلار سره نیکي کول د اوجب الواجباتو نه دي: (صحیح، خطا)

۳۲- دټولو نه لویه ګناه زنا او د هغه چا قتل کول دي کوم چه الله تعالی یي وینه حرامه کړي ده:(صحیح، خطا)

۳۳-درسول الله صلی الله علیه وسلم دمکي نه بیت المقدس تللو ته معراج وایي: (صحیح،خطا )

۳٤-نبي ﷺ لیږل شوي وو : (خپل قوم ته، انسانانو او پیریانو ته)

۳۵- رسول ﷺ :: ( وفات شو ي دي/انبیاء نه وفات کیږي)

۳٦- څوک ده ی بعثت نه انکار وکړي کافر دي: ( اکبر، اصغر)

۳۷- دانبیاو کرامو دین:: (یودي/ دهر نبي خپل خپل دین دي)

۳۸-هجرت ختم شو: (دمکی د فتحي پوري/ ترقيامت د ورځي پوري به وي).

٤٠-هجرت وايي: (دکافرو د ځکي نه دمسلمانانو ځمکي ته تللو ته/حرام کارونو پرېښودلو ته)

٤١- اسلام دین کامل دي مګر هغه څه چه نیکان خلک یي خوبونو کي ويني: (صحيح،خطا)

٤٢-دالله نه بغير بل چاته عبادت ګرځول شرک: (اکبر دي، اصغردي)

٤٣- بايد ديو کارکونکي باندي دحکم لګولو او کار باندي حکم لګولو کي فرق وشي: ( صحيح، خطا)

٤٤- اول د پغیمبرانو: (نوح عليه سلام دي، آدم عيله سلام دي)

٤٥-پيغمبر ﷺ : (نبی دي، رسول دي)

# دخلور قواعدو دکتاب شرح

مولف: شیخ هیثم سرحان

مترجم: عبدالرحیم عبدالواحد صافي

إنَّ الحَمدَ للهِ نَحمَدُه ونستعينُه ونَستغفرُه، ونَعوذُ باللهِ مِن شُرورِ أنفسِنا ومِن سيئاتِ أعمالِنا مَن يَهدِه الله فلا مُضلَّ له، ومَن يُضلِل فلا هادِيَ له. وأشهَد أنْ لا إله إلا الله وحدَه لا شَريك له، وأشهَد أنَّ محمَّدًا عبدُه ورسولُه . أمَّا بعدُ:

## دشرح نه مخکې مقدمه

### ددي متن مولف

شَيْخُ الإِسْلَام اوتوحيد ته ددعوت كولو مُجَدِّدُامام چه: مُحَمَّدِ بنِ عَبْدِالوَهَّابِ بن سُلَيمَانَ التَّمِيمِيّ. دي چه كنيه يې : أَبُو الحُسَين. ده

**په كال (١١١٥هـ)، كې په العُيَيْنَةِ كې پيدا شوي دي اوپه كال (١٢٠٦هـ).په الدّرعيَّةِ كی وفات شوي دي**

**خلور قواعدوكتاب د طالب العلم د متنونو نه دويم متن دي كوم چه طالب العلم ته وييل كيږي اويه دی متن باندي اهتمام دڅه اسبابو په وجه دي چه ځيني يې دادي:**

| | |
|---|---|
| ددي كتاب په ويیلو باندي د علماو نصيحت | دسلف صالح علماو اقتداء كول |
| په دي كتاب كي ددي زماني مشركينو باندي رد دي | دا كتاب د مختصر الشبهات كتاب خلاصه ده |

دكشف الشبهات د كتاب نه مخكې په دي كتاب باندي شروع كوو چه د طالب علم په زړه كي شک شبه پاتي نه شي

# دقواعد اربع فهرست

دا متن په دري قسمه تقسيم دی :

١.مقدمة
(عنوان السعادة)

٣.دتوحيد ويلو
اهميت

٥. قواعد

## أول: مقدمة (دخوشبختى عنوان)

دمصنف ددي متن په بسم الله باندي دشروع کولو سبب:

١. دالله دکتاب او درسولانو او انبياو داقتداء د وجى نه.

٢ دمخکي تير شوي علماو او سلفو د پيروي د وجي نه چه خپل مولفات به يي په بسم الله سره شروع کول.

٣. دالله تعالى کريم نوم باندي د برکت حاصلولو په وجه.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

(١) دالله تعالى نه دا دعاء کوم چه الله تعالى دي خپل حفظ کي وساته چه هر چرته يي(٢) ، او چه هر ځاى کي يي د الله برکت دي درسره وي(٣).

(٢) دبسم الله نه وروسته شيخ غفرالله له د خپل عادت مطابق طالب ته په دعاء باندي ابتداء وکړه،او دا د شيخ د طالب علمانو سره حرص او محبت او د الله نه د هغوي لپاره د خير غوښتلو باندي دليل دى .

(٣) اولياء الله هغه خلک دي کوم چه ايمان او تقوى يي سره يوځاي کړي وي .

شيخ الاسلام ابن تيمية رحمه الله فرمايي :«ځوک چه مومن او باتقوى وي د الله ولي(دوست) وي »؛ او دليل وربانديي د الله تعالى دا قول دي: {ألا إن أولياء الله لا خوف عليهم ولا هم يحزنون الَّذينَ آمَنُواْ وَكَانُواْ يَتَّقُونَ} [يونس: ٦٢-٦٣]

البَرَكة: رشد او ډيروالي ته ويلي کيدي شي.

التبرُّك: درشد اوډيروالي طلب کولو ته وايي.

المُبارَك: هر هغه ځوک چه په هر حالت او هر ځاى کي نفع رسوي.

**تبرک په دوه قسمه دي :**

**جائز تبرک**

لکه علم، او دعاء، او داسي نور، نو سړي د خپل علم او د خير طرفته دعوت نه برکت اخلي، نو دا برکت حسابيږي ځکه چه دداسي سړي نه ډير خير حاصليږي. لکه د شيخ الاسلام او نورو امامانو کتابونه،کوم چه الله تعالى پکي ډير خيراو برکت اچولی دي او امت ته ورنه ډيره فايده رسيږي.

لکه مسجد الحرام او مسجدنبوي کي لمونځ کول

**ناجائز ( ممنوع) تبرک**

چه کوم شرعي دليل وربانديي نه وي
(او دا دشرک اصغر د قسمونو نه يو قسم دي)

او الله دي تا د هغه خلکو نه وګرځوي چه چا باندي نعمت کيږي د هغي شکر اداء کوي(١)

(١) نعمت ابتلاء او امتحان دي او په دي باندي ډير دلائل دي: ﴿وَنَبْلُوكُم بِالشَّرِّ وَالْخَيْرِ فِتْنَةً﴾ [من الآية:٣٥ الأنبياء]، ﴿ فَلَمَّا رَآهُ مُسْتَقِرًّا عِندَهُ قَالَ هَذَا مِن فَضْلِ رَبِّي لِيَبْلُوَنِي أَأَشْكُرُ أَمْ أَكْفُرُ وَمَن شَكَرَ فَإِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهِ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ رَبِّي غَنِيٌّ كَرِيمٌ﴾ [من الآية:٤٠ النمل]، ﴿فَأَمَّا الْإِنسَانُ إِذَا مَا ابْتَلَاهُ رَبُّهُ فَأَكْرَمَهُ وَنَعَّمَهُ فَيَقُولُ رَبِّي أَكْرَمَنِ﴾ [ الفجر: ١٥ ] .

او په حديث کي هم د هغه درى کسانو ذکر دي چه د بني اسرايئلو نه وو الله تعالى دهغوى د امتحانولو اراده وکړه..... .

**نعمت د توحید الوهیت اوربوبیت سره متعلق دي او شکرېی په دوه قسمه دی :**

دنعمت د واقع کېدلو نه مخکي شکر

او دا قسم د بنده نه د کلک ایمان او عقیدي تقاضا کوي چه بیشکه نعمت کونکَی الله تعالی دي، نو زړه به یي د الله تعالی نه بغیر بل چا پوري نه متعلق کیږي او دخیر طلب به صرف د الله تعالی نه کوي.

لکه څنګه چه جنت د الله تعالی نه غوښتل کیږي څکه چه هغه یي مالک دي، همدغه رنګه ددي امکان هم نشته چه د رزق طلب د الله نه بغیر د بل چا نه وشي

﴿وَتَوَكَّلْ عَلَى الْحَيِّ الَّذِي لَا يَمُوتُ﴾[الفرقان:٥٨].

﴿إِنَّ الَّذِينَ تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ لَا يَمْلِكُونَ لَكُمْ رِزْقًا فَابْتَغُوا عِندَ اللَّهِ الرِّزْقَ) یعني عند الله لا عند غیره الرزق ﴿وَاعْبُدُوهُ وَاشْكُرُوا لَهُ﴾ [من الآیة:١٧ العنکبوت].

دنعمت د واقع کېدلو نه وروسته شکر او دا په :

زړه باندي وي

او دا په ریشتیني ایمان او یقین سره ددي خبري مکمل تسلیمولو سره ،چه رزق ورکونکي او نعمت کونکَی الله تعالی دي او په بنده چه کوم نعمت دی د الله له طرفه دي.

ژبه باندي وي

او دا د الله تعالی ددي قول مطابق: ﴿وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ﴾ [الضحی: ١١].دنعمت شکاره کول اقرار وربانديي کول او د الله حمد او شکر کول او په هغه باندي ثناء ویل دي.

اندامونو باندي وي

او دا داسي چه د نعمت استعمال په داسي طریقه باندي وي په کوم چه الله تعالی راضي کیږي،ددی سره الله تعالی ته د قربت په نیت باندي طاعات کول او د ګناهونو نه لري کیدل د هغه د حکم په ځای کولو په خاطر.

وَإِذَا ابْتُلِيَ صَبَرَ (١)

او کله چه وربادندي امتحان راشي صبر کوي

په دنیا کې دمصیبت په حالت کې خلک څلور قسمه وي :

غصه(نارضایی) | صبرکونکي | راضي | شکر کونکي

(١) صبر کول د امت په اجماع سره واجب دي

١.غصه (نارضایي) حرامه ده او دا کبیره ګناهونو نه ده، او دا وي په :

زړه باندي | ژبه باندي | اندامونو باندي

- **په زړه نارضا کیدل (خفه کیدل):** امام ابن قیم الجوزي رحمه الله فرمایي: ځیني خلک دا جرأت نه نه کوي چه خوله باندي د نارضایي اظهار وکړي لیکن نفس یي ددي ګواهي ورکوي چه په الله یي ګمان ښه نه دي په زړه کي دا وایي چه رب راسره ظلم وکړو، رب محرومه کړم، رب منع کړم .......الخ

نو هر وخت دا یادوي . نو ته خپل ځان ولټوه چه ته ددي مصیبت نه سالم يي کنه ،که دد ی مصیبت نه په امن کي یي نو د لوي بلا نه دی نجات موندلي دي.

- **په ژبه باندي غصه او نارضا کیدل:** او دا په چیغو وهلو سره او فریاد کولو سره او کنذلو او لعن طعن ویلو سره وي.

- **اندامونو باندي غصه ښکاره کول:** او دا د مخونو وهلو او ګریوانونو شلولو او ویښته ویستولو سره وي.

٢.**صبر:** دصبر کولو حکم په اجماع د امت سره واجب دي. او په زړه او ژبه او اندامونو سره صبر کول واجب دي امام احمد فرمایي: (قران کي صبر 90 ځایونو کي ذکر شوي دي او صبر کول په اجماع د امت سره واجب دي او دا نیم ایمان دي، ځکه ایمان په دوه برخو دي ،(نیم صبر دي او نیم شکر دي،) [مدارج السالکین لابن القیم].

٣.**راضي کیدل :** او ددی حکم مستحب دي او د صبر د اوچتو مرتبو نه دي .

٤.**شکر کول:** ددي حکم مستحب دي او دا د افضله او کامله مرتبو نه دي.

## دویم: څلورقواعد

الله تعالی د تا دهدایت طرف ته بوځي په دي پوهه شه چه هغه پاک دین چه دابراهیم علیه السلام نه راغلي دي وايي :چه دالله تعالی وحده عبادت وکړه،او دین الله لره خالص وګرځوه ،او به دي باندي ټولو خلکو ته حکم کړي دي،او ددي لپاره یي پیداکړي دي،لکه څنګه چه فرمايي:﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ﴾ «انسان او پیریان مي نه دي پیدا کړي مګر ددي لپاره چه صرف زما عبادت وکړي ».

نو کله چهع پوهه شوي چه الله تعالی دخپل عبادت لپاره پیدا کړي یي،نو په دي هم پوهه شه چه عبادت ته تر هغی عبادت نه وايي چه تر څو پکي توحید نه وي،لکه څنګه چه لمونځ بغیر د پاکوالي نه لمونځ نه دي،نو کله چه عبادت کي شرک داخل شو نو عباد ت فاسد شو،لکه طهارت حالت کي چه بي اودسي واقع شي،نو کله چه به دي باندي یوهه شوي چه شرک کله عبادت کي راغي فاسدوي ییواوعمل بربادوي،او خاوندیي اور کي همیشه لپاره وي،نو په دي هم پوهه شه چه ددي پېژندل هم ضروري دي،په دي امید چه الله تعالی دي دشرک نه اوساتي،دکوم باره کي چه الله تعالی فرماییلي دي:﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَاءُ﴾

دشرک نه خلاصي په څلور قاعدو باندی کیږي کوم چه الله تعالی قران کریم کي بیان کړي دی:

اولني قاعده داده چه:

کومو کافرانو سره چه رسول الله ﷺ جنګیدلي وو،دا اقرار یي کولو چه الله خالق دي ،ددنیا چلونکي دي،لکن دي اقرار دوی اسلام کي داخل نه کړل،او دلیل وربانديي د الله تعالی دا قول دي:

﴿ قُلْ مَن يَرْزُقُكُم مِّنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ أَمَّن يَمْلِكُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ وَمَن يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَمَن يُدَبِّرُ الْأَمْرَ فَسَيَقُولُونَ اللَّهُ فَقُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴾

١. دلته مولف رحمه الله دا بیانوي چه ولي توحید یادوو؟

٢. کافرانو چه رسول الله ﷺ د هغوی په منځ کی مبعوث شوي وو،د توحید ربوبیت اقرار یي کولو خو سره ددي نه رسول الله ﷺ دهغوی سره مبارزه وکړه،ځکه چه نزاع د توحید الوهیت وه، نو هرچاچه به عبادت کی بر. څه هم دالله نه بغیر بل چاته وکړڅول نو مشرک او کافردي .

دویمه قاعده:

کافرو او مشرکینو به ویيلي: چه مونږ د الله نه بغیر دا خلک نه رابلو مګر د الله د قربت د حاصلول په خاطر او د شفاعت په خاطر چه شفاعت وکړي.

نو دقربت دلیل دالله دا قول دي: ﴿وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مِن دُونِهِ أَوْلِيَاءَ مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللَّهِ زُلْفَىٰ إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ فِي مَا هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي مَنْ هُوَ كَاذِبٌ كَفَّارٌ﴾

اود شفاعت دلیل دادي:

﴿وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْ وَيَقُولُونَ هَٰؤُلَاءِ شُفَعَاؤُنَا عِندَ اللَّهِ﴾

او شفاعت په دوه قسمه دي: منفي شفاعت او مثبت شفاعت.

۱. مشرکینو او کافرو به دا دعوه کوله چه هغوی خپلو خدایانو نه صرف د قربت او شفاعت طلب کوو او عبادت یي نه کوو. لیکن ددی سره رسول الله صلی الله علیه وسلم کافر وګڼل او جنګ يي ورسره وکړو.

۲. شفاعت:په لغت کي راتولو لو ته وايي،او د يو دوه ګڼل دي،

او په شرع کي دخیر د راجلبولو او دضرر نه ددفع کولو لپاره..

ديو چا واسطه نیول

## دشفاعت اقسام

**مثبت شفاعت**

دا هغه دي کوم چه دالله نه ګلب کيږي او به دي شرط وي:
١-دالله اجازت دشفاعت لپاره
٢-دشفاعت کونکي نه دالله رضاکيدل
٣-دچا چه شفاعت کوي د هغه نه دالله رضا مندي.

په هغه څه کي چه مخلوق وربانديقادروي:
او دا په څلور شرطونو صحيح کيږي:
١-حاضر به وي
٢-ژوندي به وي
٣-قادر به وي
٤-سبب به وي

**منفي شفاعت:**

داهغه دي کوم چه قران نفي کړي وي،کوم چه دالله نه بغيردبل چانه طلب کيږي او دالله نه بغير بل څوک وربانديقادر هم نه وي، او حکم يي شرک اکبر دي.

---

دا دنبي ﷺ پوري خاص دي بل څوک ورسره شريک نه دي.

١-لوي شفاعت

٢-دخپل تره ابی طالب لپاره شفاعت چه عذاب يي کم کړي شي.

٣-دجنت ددروازو دکولاولو (خلاصولو) شفاعت

درسولانو انبياو ملائکو او موحدينو او ماشومانولپاره عام دي.

١-دموحدينو ددرجاتو داوچتولو

٢-کوم موحدين چه داور ته داخليدلو مستحق وي دهغوي لپاره چه اور ته داخل نه شي

٣-کوم موحدين چه اور ته داخل شوي دي دهغوي لپاره چه داور نه راوځي.

منفي شفاعت کوم چه دالله نه بغیر دبل چانه طلب کیږي او دالله نه بغیر بل څوک وربانـدي قـادر هـم نه وي،دلیل وربانـدي دالله دا قـول دي: ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنفِقُوا مِمَّا رَزَقْنَاكُم مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِيَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيهِ وَلَا خُلَّةٌ وَلَا شَفَاعَةٌ وَالْكَافِرُونَ هُمُ الظَّالِمُونَ ﴾

مثبت شفاعت هغه شفاعت دي کوم چه د الله تعالی نه طلب کیږي،او د چا په ذریعه چه کیږي شفاعت کونکي به د الله د طرف مکرم وي،او چاله چه شفاعت کیږي هغه به داجازت نه وروسته دهغه دقول او عمل نه الله راضی وي،لکه څنګه چه الله تعالی فرمایلي دی: ﴿ مَن ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِندَهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ ﴾

دریمه قاعده (١)

رسول الله ﷺ داسي وخت کي دخلکو منځ ته رالو چه مشرکین خپل منځ کی په عبادتونو کي اختلاف سره وو، چاپکي د ملائکو عبادت کولو،چا په کي دانبیاو صالحینو عبادت کولو،او چا پکي د کانو او د ونو عبادتکولو، او چا پکي د لمر اوسپوږمی عبادت کولو،بغیر د کوم فرق نه ورسره رسو ل الله ﷺ جنګ وکړو.

او دلیل دالله د اقول دي: ﴿ وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ... ﴾

او دلمر او د سپوږمی دلیل: ﴿ وَمِنْ آيَاتِهِ اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ لَا تَسْجُدُوا لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَاسْجُدُوا لِلَّهِ الَّذِي خَلَقَهُنَّ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ ﴾

او د ملائکو دلیل دادي:

﴿ وَلَا يَأْمُرَكُمْ أَن تَتَّخِذُوا الْمَلَائِكَةَ وَالنَّبِيِّينَ أَرْبَابًا ﴾

١- دا قاعده ښماره او واضح دلیل دي په هغه کسانو باندي کوم چه وایي: چه شرک صرف د بتانو عبادت پوري خاص دي،شرعي دلائل دبتانو باره کي هم راغلي دي،او دنورو معبودانو باره کي هم راغلي دي،رسول ﷺ ددوي په منځ کي فرق نه دي کړي،بلکه ټول یي طواغیت کي حساب کړي دي،او بغیر د کوم استثناء نه یي ټولو سره جنګ کړي دي، چه دین دالله لپاره خالص کړي شي.

بل دليل دانبياو باره كي چه دوی يي عبادت كولو::

﴿ وَإِذْ قَالَ اللَّهُ يَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ أَأَنتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ اتَّخِذُونِي وَأُمِّيَ إِلَٰهَيْنِ مِن دُونِ اللَّهِ ۖ قَالَ سُبْحَانَكَ مَا يَكُونُ لِي أَنْ أَقُولَ مَا لَيْسَ لِي بِحَقٍّ إِن كُنتُ قُلْتُهُ فَقَدْ عَلِمْتَهُ تَعْلَمُ مَا فِي نَفْسِي وَلَا أَعْلَمُ مَا فِي نَفْسِكَ إِنَّكَ أَنتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ﴾

او ددي دليلد چه دوی نيكان خلک واسطه كول عبادت يي ورله كولو او الله ددي منع كړی وو:

﴿ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ يَدْعُونَ يَبْتَغُونَ إِلَىٰ رَبِّهِمُ الْوَسِيلَةَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ وَيَرْجُونَ رَحْمَتَهُ وَيَخَافُونَ عَذَابَهُ﴾

او ددي دليل چه دونو او كاڼو عبادت به يي كولو : ﴿ أَفَرَأَيْتُمُ اللَّاتَ وَالْعُزَّىٰ (١٩) وَمَنَاةَ الثَّالِثَةَ الْأُخْرَىٰ﴾

دابو واقد الليثي ﷺ حديث دي فرمايي: مونږ درسول الله ﷺ سره د حنين طرف ته روان وو،او زه نوی نوي مسلمان شوي وم،نودلته يوه ونه وه چه ذات أنواط به يي ورته ويلي مشركينو به الته اعتكاف ورته كولو او خپله اسلحه به يي پكي اچولي وي،كله چه مونږ دي ونې ته ورسيدلو نورسوړل الله ﷺ ته مو اويل يارسول الله مونږ لـه هم داسی ونه(ذات أنواط) مقرر كړه، نو رسول الله ﷺ وفرمايل: الله اكبر! په هغه ذات دي زما قسم وي دكوم په لاس كي چه زما نفس دي،دايو غلطه طريقه ده،همدارنګه بني اسراييلو هم موسی عليه السلام نه هم غوښتي وو:(چه د هغوی ښتګه خدايان دي داسي مونږله هم خدايان جوړ كړه)تاسو هم د غلطو خلكو سنت پسي روان يي چه دتاسو نه مخكی تير شوي دي.)

څلورمه قاعده :

(١) زمونږ د زماني د مشرکینو داولني مشرکینو نه ډیر غلیظ ترین دي،ځکه د هغه وخت مشرکینو صرف اساني او راحت کي شرک کولو،او د سختی په وخت کي به يي خالص به دالله طرف ته تلل،ليکن ددي زماني د مشرکینو شرک همیشه او دائمي دي،په دي خبره دليل دالله دا قول دي:

﴿ فَإِذَا رَكِبُواْ فِى الْفُلْكِ دَعَوُاْ اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ فَلَمَّا نَجَّاهُمْ إِلَى الْبَرِّ إِذَا هُمْ يُشْرِكُونَ﴾(١)

(١) مولف رحمه الله په دي لويه قاعده کي ددي زماني د مشرکینو خطر بیانوي،ځکه چه ددی زماني مشرکان دهغه مشرکانو نه ډیر زیات په شرک کي اخته دي،ددي زماني مشرکين په سخته او اسانی دواړو حالاتو کي دالله سره شرک کوي او د هغی زماني مشرکینو به اسانی خوشحالی کي شرک کولو او سخته کي به يي الله ته رجوع کوله،دالله په وحدانيت به يي اقرار کولو،

هغه مشرکين چه الله هغوی کي پيغمبر ليږلي وو،بيا يي هم ورته کافر اوويل نو ددي زمانی خلک چه ښکاره او پټه کي شرک کوی نو ايا دا به کافر نه وي.

## دخلورو قواعدو شرح سوالونه

| عمل | دقران او سنت نه دليل |
|---|---|
| نعمت ابتلاء او امتحان دي | |
| دکافرو په توحيد ربوبيت باندي اقرارکول | |
| دقربت طلب کول | |
| منفي شفاعت | |
| دلمر او د سپوږمی دليل | |
| دملائکو دليل | |
| دانبياو دليل | |
| دصالحينو دليل | |
| دونو بوټو دليل | |
| مشـرکين چـه سـختـه کي الله تـه راتلـل او اسانی کي به يي شرک کولو. | |
| دشرک دليل | |

| | |
|---|---|
| ولي توحيد و ايو | ١- ٢- ٣- ٤-<br>٥- ٦- ٧- ٨-<br>٩- |

# شرح کتاب (نو اقض الاسلام)

# (هغه کارونه چه انسان د اسلام نه خارج کوي)

مولف: شیخ هیثم سرحان

مترجم: عبدالرحیم عبدالواحدصافي

# د نواقض الإسلام متن

شيخ الاسلام محمّد بن عبد الوهّاب فرمايي:
پوهه شه چه د اسلام ماتونكي شيان (داسلام نه ويستونكي)شيان لس دي:

اول : دالله تعالی په عبادت كي شرک كول الله تعالی فرمايي: ﴿ إِنَّ اللَّهَ لا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ ﴾، او فرمايي: ﴿ إِنَّهُ مَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَأْوَاهُ النَّارُ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ﴾، او ددي شرک نه : دالله نه بغير د بل چا لپاره ذبح كول دي ،لكه څوک چه ديپريانو او يا د قبر لپاره ذبح كوي.

دويم: چاچه خپل او د الله په منځ كي وسيله (شريک) جوړ كړو چه هغه رابلي،او د شفاعت سوال ورنه كوي، او توكل ورباندي كوي. په اجماع سره يي كفر وكړو كافر شو.

دريم: څوک چه مشركين كافر نه ګڼي،او يا يي په كفر كي شک وكړي،اويا د هغوی دين(مذهب)صحيح وګڼي نو كفر يي وكړو

څلورم: چا چه دا عقيده وساتله چه د پيغمبر هدي ( دين )باندي بل دين او شرع كامله ده، او دده د حكم او فيصلي نه د بل چا حكم (فيصله)ښه ده،لكه د هغه چا په رنګه چه د طاغوت فيصلي خوښوي . نو دا كافر دي.

پنځم: څوک چه د رسول الله ﷺ راوړل شوي (دين ) د څه حكم سره بغض او كينه وساتي كافر دي اګر كه عمل وربائدي هم كوي.

شپږم: چاچه د رسول الله ﷺ ددين څه شي پسي استهزاء وکړه، او د الله تعالی ثواب او جزاء پوري استهزاء وکړه نو کافر شو،دليل يي د الله تعالی دا قول دي: ﴿قُلْ أَبِاللَّهِ وَآيَاتِهِ وَرَسُولِهِ كُنتُمْ تَسْتَهْزِئُونَ (65)لَا تَعْتَذِرُوا قَدْ كَفَرْتُم بَعْدَ إِيمَانِكُمْ﴾.

اووم: جادو، او ددي د اقسامو نه د زړونو اړول راړول دي، چا چه دا وکړو،يا وربانديي راضي وو، نو کفر يي وکړو.

دليل وربانديي د الله تعالی دا قول دي: ﴿وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنْ أَحَدٍ حَتَّىٰ يَقُولَا إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ﴾.

اتم: دمسلمانانو خلاف د مشرکينو مدد کول او د هغوی سره دوستي کول.

او دليل د الله تعالی دا قول دي: ﴿وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ﴾.

نهم: دچا چه دا عقيده وي چه ځيني خلکو له د شريعت محمدي پابندي کول ضروري نه دي،لکه ښنګه چه خضر دموسی عليه السلام د شريعت نه وتلي وي،نو دا کافر شو.

لسم: دالله ددين نه مکمل انحراف کول، نه يي تعليم حاصلول او نه وربانديي عمل کول.

دليل د الله تعالی دا قول دي:﴿ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن ذُكِّرَ بِآيَاتِ رَبِّهِ ثُمَّ أَعْرَضَ عَنْهَا ۚ إِنَّا مِنَ الْمُجْرِمِينَ مُنتَقِمُونَ﴾.

دذکر شوي نواقضو د مرتکب کيدلو والا ته مرتد وييلي شي که دا استهزاء ټوقو او يا د سنجيدګی حالت کي هم وي،مګر هغه څوک مرتد نه دي کوم دی حد پوري مجبور کړي شوي وي چه د مال او ځان خطره يي متوجه وي، او دا ددي د خطر دلوي والي د وجي نه ذکر کړي شوي دي نو مومن له پکاردي چه ځان ورنه وساتي،مونږ د الله د غضب نه پناه غواړو. وَصَلَّى اللهُ عَلَى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ، وَعَلَى آلِهِ وَصَحْبِهِ وَسَلَّمَ.

# شرح

## دمؤلف مقدمه

## بسم الله الرحمن الرحيم

په دي پوهه شه چه د اسلام لس نواقض(ماتونکي) دي:

### ولي علماء خپل کتابونه بسم الله باندي شروع کوي؟

- دالله د کتاب او د انبياو رسولانو عليهم السلام د اقتداء په وجه
- په دي حديث دعمل کولوپه وجه: «كُلُّ أَمْرٍ ذِي بَالٍ...»؛ اګر که ضعيف هم دي
- دسلفو علماو د اقتداء په وجه
- په بسم الله باندي د برکت په وجه

### کله چه د عدد ذکر قران وسنت کي راشي

- کله چه دکتاب او سنت په نصوصو کي داسي څه پيدا نه کړو چه د عدد په ډير والي دلالت کوي نو ددي عدد بيا يو خاص مفهوم دي او هغه دا چه دي کي به زياتوالي نه شي کيدلي. لکه حديث جبريل کي داسلام اود ا يمان ارکان.
- ډيروالي دلالت کولو نو بيا ددي عدد خاص مفهوم نشته يعني ډيروالي به کيدلي شي پکي چه کوم ثابت وي کتاب او سنت کي،لکه درسول ﷺ داقول: «**خَمْسٌ مِنَ الْفِطْرَةِ...**»،پنځه شيان د فطرت دي،ا وداقول: «**اجْتَنِبُوا السَّبْعَ الْمُوبِقَاتِ...**».اووه هلاکونکي شيانو نه ځان وساتى.

### كله كله عدد ذكر شي او د هغى مفهوم نه وي ولي؟

دا درسول الله ﷺ د بهترې تعليم طريقه وه چه كله به يي اراده وكړه چه اوريدونكي مجلس كي ښه يادونه وكړي،او ددي وجي نه هم چه روسته زمانه كي ددي مسائلو حاضرول اسان وي، لكه درسول الله ﷺ دا قول: **ثَلَاثَةٌ أُقْسِمُ عَلَيْهِنَّ وَأُحَدِّثُكُمْ حَدِيثًا فَاحْفَظُوهُ: مَا نَقَصَ مَالُ عَبْدٍ مِنْ صَدَقَةٍ**...»،او مولف رحمه الله هم په دي طريقه تلي دي.

### ولي نواقض وايو؟

ترخو چه ځان ورنه وساتو او پكي واقع نه شو،او ددي ډيره لويه فايده ده،لكه ځنګه چه د اودس او د لمونځ نواقض وايوچه اودس او لمونز مو مات نه شي،د حذيفة بن اليمان ؓ روايت دي فرمايي»**خلكوبه درسول الله ﷺ نه د خيرد كارونو تپوسونه كول ما به ورنه د شرد كارونو تپوسونه كول ددي يري نه چه پكي و اقع نه شم**.».

### داسلام نواقض څه شي دي؟

دا داسلام فاسدونكي شيان دي ، او داسلام نه كفر اكبر طرف ته وړونكي دي،او اسلام: (الله ته په توحيد باندي تسليميدل دي او په طاعت باندي تابعدار كيدل دي، ، او دشرک او مشركينو نه براءت كول دي).

| | | | |
|---|---|---|---|
| **معنى:**<br>هغه څه چه مسلمان د اسلام نه دكفر اكبر ته اوباسي،دالله نه عافيت او سلامت غواړو. | **ولي علماء ددي نه تعبير كله په نو اقضو او كله مفسداتو،اوكله مبطلاتوسره كوي؟**<br>دا دتنويع بدلولو د باب نه دي، چه طالب ستړي نه شي،كنه معنى ټوله يوه ده،لكه ځنګه چه ويل كيږي: داسلام داودس نواقض،دلمونځ مبطلات،دروژي مفسدات. | **ايا دي نو اقضو باندي علماء متفق دي؟**<br>هو متفق دي. | **ايا ددي خاص عدد معلوم دي؟**<br>نه ددي خاص عدد نشته.<br>**نو ولي بيا و ايي چه لس دي؟**<br>ددي د خطر دلويوالي دوجي نه ترخو چه ښه ياد كري شي. |

**ايا نواقض مختصر شكل باندي شمارل كيدلي شى**

| | | | |
|---|---|---|---|
| قول(وينا)، او په دي کي الله او رسول او دين ته کنذلي کول دي. | فعل (کار) او په دي کي جاد وکول شامل دي. | عقيده ساتل، او دي نه مراد داسي عقيده ساتل دي چه نفع او نقصان دالله نه بغير بل څوک ورکوي. | ديهود او نصارى په کفر کي شک کول کومو ته چه درسول الله ﷺ دعوت رسيدلي وي او ايمان يي نه وي راوړي. |

**ايا نبي ﷺ دا لس نواقض ذکر کړي دي؟ او څه دليل دي وراندي؟**

هو دا ټول نواقض نبي ﷺ ذکر کړی دي،بلکه د هر يو لپاره قران او حديث کي دليل شته دي.الله تعالى فرمايي: ﴿ وَكَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ الْآيَاتِ وَلِتَسْتَبِينَ سَبِيلُ الْمُجْرِمِينَ ﴾.

**که چاڅوک په کوم ناقض کولو کي وليده يا وراندي پوهه شو نو هغه به يي کافر کوي؟**

نه! بلکه ديو چاپه کافر کولو کي حق علماو او شرعي محکمو ته بايد رجوع وکړي ،رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: «أَيُّمَا رَجُلٍ قَالَ لِأَخِيهِ: يَا كَافِرُ؛ فَقَدْ بَاءَ بِهَا أَحَدُهُمَا».

**نواقضو باندي چا تاليفات ليکلي دي؟**

هرچاچه د فقهي کتابونه ليکلي دي نو د مرتد دحکم په باب کي يي د نواقضو ذکر کړي دي،ليکن مولف رحمه الله اولني کس دى چه مستقل تاليف يي وراندي کړي دي.

**ايا په نواقضو کي به د فعل اوفاعل منځ کي فرق کولي شي؟**

هو خامخا! ځکه داسي نه ده چه څوک په کفر کي واقع شوکافرشو، بلکه د کافر کولو لپاره دحجت قائمول او دشبهي نفي کول ضروري دي،او د مولف هدف دلته داشخاصو کافر کول نه دي بلکه امت ته دنصيحت دباب نه دنواقضونه خبرداري ورکول دي.

## چاچه دا نواقض اویبل نو هغه له څه پکار دي؟

مسلمان له پکار دی چه ځان ورنه وساتي او په خپل ځان باندي دي کي د واقع کیدو نه ویریږي. او نور خلک دي هم خبردارکړي، اما خلکو باندي حکم لګولو کي باید لویي علماو او شرعي محکمو ته رجوع وکړي.

**الله تعالى فرمايي:** ﴿لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُم بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ (١٢٨) فَإِن تَوَلَّوْا فَقُلْ حَسْبِيَ اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ ۖ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ﴾.

# اولني (ناقض) ماتونكي

دالله په عبادت كي شرک كول،الله تعالى فرمايي: ﴿إِنَّ اللَّهَ لا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ﴾، او فرمايي: ﴿إِنَّهُ مَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَأْوَاهُ النَّارُ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ﴾، او په دي كي :دالله نه بغير بل چاله ذبح (حلاله) كول،لكه خوک چه ديپريانواو يا د قبر لپاره ذبح كوي.

## دشرک اقسام

### أكبـر(لوي):

(او همدا د مولف هدف دي)

او ددي حقيقت دادي چه داسي عقيده وساتي چه دالله نه بغير بل خوک هم ددنيا په دي كارونو كي تصرف كولي شي او دخير او شر كارونه يي هم په لاس كي دي.

- د(ملت)دين نه ويستونكي دي .
- تولو اعمالو له بربادونكي دي.
- دبادشاه لپاره يي وينه او مال مباح دي.
- په جهنم كي دهمشيه والي سبب دي.
- چه شريعت كي ورته د اكبر(لويي) نوم وركړي شي.
- كله چه شرعي نصوصو كي شرک او كفر لفظ سره (أل) راشي نو دا بيا دا شرک اكبر دي .

### أصغر(ووړكي)

او ددي حقيقت دادي :چه داسي يو شي سبب وګرځوي چه كوم الله سبب نه وي ګرځولي،او هر هغه شي چه د شرک اكبر لپاره وسيله وي هغه شرک اصغر دي.

- د (ملت) دين نه ويستونكي نه دي
- صرف خاص عمل لره بربادونكي دي.
- وينه اومال لره مباح كونكي نه دي.
- جهنم كی د هميشه والي سبب نه دي.
- په شريعت كي چه د اصغر په نوم ذكر كړي شي.
- هركله چه شرعي نصوصو كي شرک او كفر بغيرد (أل) نه راشي .نو دا اصغردي.

ایا شرک اکبر معاف کیږي(بخښل کیږي)؟

